

Ketabton.com

# ورانګه

یوه ورانګه په لاس ورشي
آدم ولاړ شي قدم وراندې
بیا پیړه په ځای ولاړه وي
او تیرې وي لاندې باندې

ګوهر رحمان ګوهر

PROPERTY OF
ARIC
Established
1989

(c) ketabton.com: The Digital Library

# وړانګه

دکتاب نوم : وړانګه
ویناوال : ګوهر رحمن ګوهر
دچاپ کال : ۱۹۸۹
خطاط : نورالدین هنریار

بسم الله الرحمن الرحیم

په وياړ

د هغه ټولو مړيالو

چې د بنیاد مو د ښتونو ځنی

تېځنډی د پښو ځولانې او د -

لاسونو ولچکونه پرې کوي او دا

رنګ آدمزاد خپل قجیر قامت

ته ورځکوي او ژوندنور

غوړځانګن کوي.

PROPERTY OF ACKU
7550

ځوک یې ولې خپل قسمت کړي
کومه ورځ چې نوربدی[1] شي

ځان په بنش ولې لیکه[2] کړي
چې په شتوکي اودرېدی شي

څه په سر آسمانونې یې
که آسمان ځمکه کېدی شي

په مټ څه لره سر په ده
چې په مټ زرغونېدی شي

په خرډک[3] دې ولې سود[4] شي
چې په خېز نښترېدی شي

د پړو[5] تل[6] ته ولې پلي[7]
له بریالو چې ملېدی[8] شي

د بازادار هنر دې نه زده
که نه یې چتي بازېدی شي

لیت او لار چې د مېړه وي
فطرت ټول ولجه کېدی شي

---

۱-نوربېدل = بدلېدل، ۲- لیکه = حساب، ۳- خرډک = یوبوټی، ٤- سود = مطمئن
٥- پړه = ماتې خوړل، ٦- تل = ډله-جمعیت، ۷- پلتل = یوځای کېدل، ۸-ملتل = ملګرېدل

که سوارۀ لوی فرعونان دي
که کلیم ؑ شي کونږېدی شي
د بري لاري بند نه دي
که له سر ځوکځ تېرېدی شي

○

لوی کتاب د میرنبکارانو
ګډ په وینه کې د خانانو کا
بیاد ختوکوکوشتان ټول
الوتونکی باتوران کا

○

د کلیم دودونه خپل کا
رانسکوره زورجهان کا
پربېاسلی او نتلی[1]
د دوران قهرمانان کا

○

هغه ځوکځ چې میړه خپل دی
ټینګ په ننګ او په خپل ځېل[2] دي
د زړو مارڼې[3] یې ژوند دی
چې د شنو زمرو د سېل دی

---

۱- نتلی = ناتارشوی، ۲- ځېل = هوډ، ۳- مارڼې = ښکار.

ترمې وينې دي سکروټې

ترمې وينې هم رامبېل(1) دي

د خپل تنګ دي پاتې شوي

په کولند(2) دي که په ښکېل دي

رښې خښکه بې کوندې(3) شي

چې څانګې(4) همه رشپېل(5) دي

د طبيب به دې خښک روغ کړي

چې بې چارې د شاخېل(6) دي

چې د دروزې(7) يې تښې وي

په وينو پړاته غلبېل دي

چې جامه يې کاسيرې(8) وي

څه په چېل(9)، څه که بې چېل دي

د باتور انګې(10) وروستې ده

مشرې که په چارخويل(11) دي

---

۱- رامبېل = يوګل، ۲- کولنه = کټه چې دغوېې، څاروي څښتن يې اچوي چې د آزاد ګرځېدو نه يې منع وساتي، ۳- کوندې = کامې کښې - خلېل، ٤- څانګې = درې غابښې ۵- رشپېل = چې دغلې رشې پرې بادوي، ٦- شاه خېل = چې شاه خېل کوي يعنې څرمنه شخ شخ تسمه تسمه کوي، ۷- دروزه = دغمو ونډه - تيلي، ۸- کاسيرې = بدلمنې

۹- چېل = پړونې، ۱۰- انګې = يوه لوبه چې وايي انګې انګې مل دي څوک دی ،

۱۱- چارخويل = قرقره،

نه د دین، نه د سا(۱) دین دي
خوار متازه د سوئیل(۲) دي
شاید بیا خلیلؑ زرغون کړي
"مومنان" ټول آذرخیل دي

کلیمه لویه کیمیا ده
لا ناپوهه پر دنیا ده
ژوند په هر اړیکي وي چي
کلیمي ته یې اړتیا ده

د جهان د سمام(۳) پېښتي
وړي تندي باندي مېړونه
د ملغي نه کله کېږي
د باتور، د باز کارونه
ننګیالي په دار بر سېره
غوړوي خپل منبرونه
په پاخون چي "زه یم" نه کړي
خوشي پوچ هغه مونځونه

---

۱- سادین = اړولی ځمکه، ۲- سوئیل = دریمه نړۍ، ۳- سمام = بندوبس - توزیع

په جرقار چې لړو بر کړي
بلالي (رض) هغه بانګونه[1]
چې دا ځمکه دخدای کور کړي
دي هغه دخښتن ملونه

ننګیالي دي شاه میړونه
لکه حق یې کړو وړه وي
دننګیال په مټ، په توره
دلته ارډ خښتن کړه وي
خولې ماتې په فرعون کړي
دننګیال دمزري زړه وي
تورخنګلونه[2] خوندي وي
حق ننګي یې غرین کړه[3] وي
ساه یې واچوي جوش[4] کې
له پېړو پېړو چې مړه وي
دناحق وړه[5] ټول پړه کړي
وړه هغه کړي، چې تل پړه وي

---

۱- بانګونه = آذانونه، ۲- تورخنګلي = باطل کاره، ۳- غرین کړه = قلا- سنګر
۴- جوشه = تنه ، ۵- وړه = بریالي.

دکېدړه په اورړو نه شي
چې په غړمب د ښتو زمرو شي
په تسپو موسلو نه شي
چې په تورو، په نېزو شي
په منښتو[1] نه بودېږي
چې په وينو په خولو شي
چې د باز شوغې ته اړ وي
هغه څنګه له تو تکو شي!
ننګيالي يې شي ګولی
چې په دار، په غرغرو شي
د تاريخ بهير ګړولی
کله څوک بې هوډه يالو شي؟
دراسمنو چارې کله
د نارامو[2] په لينګو شي
د ژوندون د ميدان ګټې
په ډال غاړو توريالو شي
د غيرګ ميړانه کله
له درست ګلي د ړندو شي

1- منښته = زيارتونو ته دوړو د ياره په ځان څه منل، 2- نارام = ناغيږ - نا راست .

چې رنځور باویړی[1] وکړي
پوچې هیلې د داروشي

آدم وګوره ای مارکسه!
کله بې سود په کورکوشي

د ځانګو د کوچنی نمړی[2]
پوره څه رنګ په ځلموشي

چې د نمرد روناوي وي
رون په څنګ په اورګو[3] شي

عقل څه خوني اتي دی
راسوړی[4] په خپلو ملو شي

د ځیرک سر پوره والی
د حریې په سیپارو شي

چې له مال خبره واوړي
پت په سربندي پاله شي

کائنات چې په منګل کړي
داسړی سړی باله شي

---

۱- باویړی = بابیړی = د نارو غی بیا تاندېدل، ۲- نمړی = جامې، ۳- اورکی = اوربلکی
۴- راسوړي کېدل = راکرځېدل - راخلاصېدل - راختل.

لوړتي نه تلي صبا څوک
هم یو «زه یم» به تاله شي
ښکلي هغه چي ښیوه(۱) یې
یو د «زه یم» په پساله شي
زه یم هر کله ځلمی دی
دي وجود چي زوړ ځاله شي
هغه ورځ به ستر سحر وي
چي دا ځمکه یو کاله(۲) شي
په یو لوی سین کي غړلي
چړي، چړ، لښتی، ویاله شي

○

د کتاب حد ماتی مه شي
هره لاره چي تړي
چي د ژوند د خیره نه وي
ورانوه لاري زړې
حق به هله میښته وکا
لومړی غیر چي وشړي
یا سړی یاد څړی شه
حق ناحق ولې ولړي

---

۱- ښیوه = ډول - ښایسته والی، ۲- کاله = کور

زېبناکیان چې له مینځ ورک شي
پړکني به شي مړي
لوی آتیان لکه اوګر(1) کړي
د جګ غر تېږې وړي

ستور ښار کو دواړه کسي
په ښار لو کړل تنها کې
نری وټ یې چرته بیا موند
برد ستورو په دنیا کې

له کاڼو او له شګو
سره زرو سنګل کیږ(2) یګرو
الوول حق و ناحق دی
څنګ تراوسه ستړکورو؟

د بوذر(3) د کندي خلق
د آذرود کندي دي
که هر څو مخ په کعبه دي
له بتانو پیوندي دي

---

۱- اوګر= د ښاروود خوړلو وروسته پاتې کېدونکی ګیاه یا نباتات، ۲- کیږیګر= کیږی کوونکي

جوړوي د ښيښو مېنې[1]

ځيرکان خوښيبه کړوي

د وختونو په ناتار کې

چې يې وکوري د بڼ[2] وي

○

د وجود نيستي بلا ده

پرې له سوختو مارکسان ژاړي

سر نيستي ده د نيش[3] "زه يم"

د وه نيستي کليمان ژاړي

○

رغانه د توکو توکو

د صورت هسې د وړېږي

ولې "زه يم" يوتوکيز[4] دی

يوتوکيزی نه نړېږي

○

حيواني وجود ځه دئ؟

د حجرو[5] الوولتيا ده

او حجرې د خاورين توکو

خپل ترمينځه انډولتيا ده

---

۱- مېنه = کور، ۲- د بڼ = سنګسار، ۳- نيش = ناشته - نيشت، ٤- يوتوکيز = د يوتوکی نه جوړ - چې کډو نيزه نه وي، ۵- حجره = Cells - ژوندينکی.

دا خاورینه واړه توکي
د بریښنکو رغوني دي
او بریښنکو ته چي ځیر شي
تشي ترقنده خپي دي

○

دین همه واړه سره زر دي
مذهبونه ټول زرنیخ
دین ژوندون کاندي غورځانګه
مذهبونه یې چارمیخ

○

ګرلاسي کندوان یې ډک شول
چي جب جوب شول په خولو کي
ځارله هغو توریالیو
چي په خپل دي سرخېړ(۱) و کي
غوړه(۲) ټوله دې په ځان بډه
تش لمن که یې پسرلو کي
ساده ګوري ملغلري
خسا ډنډوکو، خرخوړو کي

۱- سرخیړی = سرپړه، ۲- غوړه = تومت - ګرم والی - ملامته

دا چې ګوابښ په ستوروکېږي

ته هم زاوره څه نیزوکې

څه ناویاته چاره وکړه

میرنیه! په تلوتلوکې

○

ګوړیمار[1] چې د بمبل وو

هغه سرپه مُونډو[2] دی

کړولی[3] چې د باز وې

پدلولکو په شوغو دی

چې د برید اوډ غدی وُ

د تسپو د موسلو دی

چې چرګې پرې ښایسته وې

هغه شرم د چرګو دی

چې ښېتن د لوی اخوّر وُ

اوس د پوچو کښېدو دی

د تیرو تورو بُوّرګی[4] وُ

د بې سترګو کندو[5] دی

---

۱- ګوړیمار = داتمان د مخې په لوبه کې په بمبل (په سرکې) د کوړې (حلقې)، د ننټکې ویشتونکې

۲- مونډه = د مخې په لوبه کې په بُټ د تیلې خمې نه ښکته وچې کښې لوېتی، ۳- کړولی = د ښکار ځیرکولو، ښارلود پاره د باز تاوېدل راتاوېدل، ۴- بور = زمری، ۵ = کندی = چم، محلت.

د قرآن ځني نامــــنده
څه د خوشو عقيــدو دی.

بازداري پولــوي هــنر دی

ته په پوښله(۱) بازدارې
چې نه لرې جــنــب

په نامه باندې ميشکارې(۲)
تش غږ بازو وته ناست يې

څه که ځويې د لوی بلار يې
ته مېږ ښکاره کړيږ غــواړې

په ښه ښه مــــرداري يې
يې په تــومنه له و يــارلو

خو په چارو کې د ويار(۳) يې
له قــرآن نه غــير هــٰذا

بې صلوٰة مونځ گذاري يې
کله سرګريوان ته کوز کړه

چې داولې دومــره خواري يې؟

---

۱- ښله = د ځرمنې لاسمه چې د باز ښکاريانو د پاره يې لاس ته اچوي، ۲- ميشکار = بلزوان، ۳- ويار = شــرم.

چې پښتولنه قرآني وي
دا سړي به شهسړي[1] وي
دا تنزري تاروګي به
بیا بازونه وهندي وي
دا پربوتي، دا انسټ[2] به
بیا ښترې آسماني وي
چې نومړی په قام قام دي
بیا به ټول یو آدمځي[3] وي
د ننن شخولې[4] اوکاټي[5] به
صبا توري اوتوبري وي
په وندوی[6] ځمکی د ننن به
نه ځمکوال، نه شیخ ملي وي
نه به پولې، نه بیلتون وي
نه نها، نه زمانې وي
یو آدم، یو آدمتاله[7]
په کښ رنګ به یورنګي وي

---

۱- شهسړی = سترسړی، ۲- پربوتي انسټ = بوبتی دی، ۳- آدمځی = د آدم زامن،
٤- شخوله = درسته، ٥- کاټي = تیکی، ٦- وندوی = دا سی حلال کړی ځلروی چې پکې خلق برخې (وندوی) ملستی وی، ۷- آدمتاله = ټولنه چې پکې د ځمکې ټول استوګنی (ځمکزی یا آدم زی) راټول وی یا سره راټاله وي

آدمځوني[1] به یو کور وي

وران به کورکې کورکي وي

درناوی به وي په جسـو

سپکاوي به بې جسې[2] وي

نه مړيې نه به ښبنتن وي

نه به غټې، نه به نرۍ وي

نه کاواک ، نه به بې واک وي

چې لله به ټولواکې وي

ټولنوال به ټولنوال لـه

رب، رحیم وي، او ولي وي

هم به یې کسب خالقي وي

هم توره[3] به یې رازقي وي

وی پاڅون لکه یو تن به

یو تاله به مختګي[4] وي

له ختیځه تر لویدیځه

به یو ستره ورورولي وي

په حدونو د کتاب کې

به د عقل خپل منځي[5] وي

---

۱- آدمځوني = ځمکه ، ۲- جسې = ورتیا ، اهلیت ، ۳- توره = قانون - تره - ترلې لاره - لاره ، ٤- مختګي = مخکې تګ ، ٥- خپل منځي = خپلواکي - آزادي.

سین، د غاړو په درنښت به
تل تر تله غرځنګي وي
یو ځای پرېږي به له ټولو
ټول له یوه به لــوکي وي
له قبلو دې کډه وړو
به یوه کعبه موندې[1] وي
له زرها اوړ اوړکو به
دحړۍ یو رڼایي وي
سړی ټول به سره سیال وي
په فطرت[2] به یې سترواکي وي

ستا خیری دړست کائنات دی
ته لا کوز په خرخشو[3] یې
پولې پولې ده لا ځمکه
خپل ترمینځه په دبښنو[4] یې
ژوندله تنه کډونیز[5] دی
ته ځان ځانې به ترځویې

---

۱- موندمه = راکسل ناوی ـ دغوبل دمینځ غوبۍ، ۲- فطرت = نیچر دبنیا دمنړیتر نور ټول کائنات ۳- خرخشې = جګونه، ٤- دبښنه = دښمنۍ، ٥- کډونیز په کډه هستېدونکی.

څمکه یو کور ځکه نه شه
ته ترڼن د کورکوي
یوکور[1] په واړه آدم دی
تن په قام، په قبیلو يي
دیوې حجرې ړیږنده
د حجرو په بیل کلوي

○

کره بنا یو آدمتاله
وران کا پولې سرحدونه
د خپل تن حجري کا ښولي
دا خواره واره قامونه
ستامرام یو وروري ده
نه ملکري ملتونه
یو بیرغ په ځمکه جګ کا
کوز کا واړه بیرغونه
دا وسلې د مرګ لاهوکا
سُر د امن کا تارونه
پدې ځمکې - آد محُوني
بیا برسیر کا جنتونه

---

۱- کورمه = کورنۍ.

یو کتاب دی سرتوره[1] کا
نور ونغاړه کتابونه
بیا آزاد په آدمزاد کا
پارچاو[2] شوی نعمتونه

زوړ چاپېر سور الوزي
ډېر وېزاره راپرېوځي
له دې چې قند ناتار به
هم پاخه ښځتې وځي

چې د ژوند ځله يې مړه شي
چې يې ساه دلينګو وځي
راخوړه شي پرې دلوړو
اور په خوله ځوځي ماځوځي

د قرآن دعوه خو داده
چې مؤمن په هرچا بر دی
دعوه کېږي د کتاب کوره
د همه قامونو لر دی

---

۱- سرتوره = د سرقانون - اساسي قانون - بنسټيز قانون، ۲- پارچاو = ډب - بند.

د زردارو په ټـــرلني
دي ګټونکي په بايلـــني

د شته منو شته مني ده
د نيستمنو له نږ بيښـــني

د ماړو کوښي[1] جوړيږي
د تش بانړو[2] له ثخـــرمني

د زردار ماڼۍ ولاړې
د کارګر په تڼې پـــلني

د ړک[3] لاس سپينه جامه ده
د تش لاسو په ريمـــني[4]

بده ورځ د لولنګرو[5]
دا زل نه دې ليکـــني

د باطل تولنه پايـــي
د مذهب په سروينځني[6]

---

١- کوښي = پيزار، ٢- تش بانړي = نيستمن، ٣- ړک لاس = چې لاس يې ړک وي
٤ - ريمنه = خيرنه - خيچنه، ٥- لولنګر = بې ځمکې - چې ځمکه يا دوېتس
نه لري، ٦- سروينځل = ملاتړ کول - پلوي کول.



٤

○

وګړي ټول که آذري غواړي

ښځې تن له تا نه خليلي غواړي

د فرعوني سپاره کوز ولوله

واړه وختو نه کليمي غواړي

په تشو تيکو که ګټې کېږي

د ننګ ډګر لا شه حلمي غواړي

وګړي ټول سر ژغوي او پايي

حق د ميړه غوندي ژوندي غواړي

ښکيلا کي عمر د ښار وودې ګوري[1]

ژوندي آدم به مخ کښې غواړي

د اباسين خونړي نيزاو چلي[2]

د جاليوانو سر هڅکي غواړي

په هسک او تل د حقيقت لټول

تل سر ببري ليوني غواړي

چې د ښځې تن لاره د ب کولي شي هم

ژوند د اسي زين او هڅک سري غواړي

---

۱- وګوري = خبردار ، ۲- نيزاو چلي = سيلاب او چپې.

○

د هِګ قامونو په خرڅښوکې
واړه قامونه بې هیڅه دل شي
د میکیاولي د شهزاد ګانو
په ژمنو خپلو کله عمل شي
خپل ګنډکو نه به پرې ناتار کړي
ګډې که تولې زمرې ته تهل شي
غښتلي مټې د ځان ګلا ده
کمزوري مټې د ځان اجل شي
که سر ببري هو دیالي پاڅي
په ریژکو[1] به دا هِګ بدل شي

○

چې د حق سره په لار دی
لکه حق هسې بې ښار دی
چې د حق دلارې بېل دی
په دنیا، په آخر خوار دی
یو ویاړلی د حق رنګ دی
بل هر رنګ آخر د وټیار[2] دی

---

۱- ریژکي = کوچني - وړوکي - ناشي، ۲- ویار = شرم - پیغور.

چې تيغه[۱] کې حق ته و لاړ دی

د خدای هغه څوک پکار دی

د خپل «زړه» نا روزونکی

خپل ځانی په ځان ناتار دی

د مېړونو مټ که کوری

ګل ورین هم تن اوچار دی

په توله چې د تول ژوند دی

حق، او ښکلی هغه کار دی

چې د خيرد آدمزاد دی

نو په خدای هغه مخدار[۲] دی

چې ناسور په مخ د ځمکې

شیخ ملي وي دا دوتري

آدمزاد به دوه تېپي وي

لري بري نوري لري

د تولنو د لرمون به

زړيني لوړي او نهري

---

۱- تيغه = برش - کږه وږه - نقش -

۲- مخدار = رویدار - دروند.

شي ځوړلي خلق به

بې دولتي(١)، يوه ځري(٢)

دړې در خاورې په سر به

پرکښي وي لولنګري

د ټولنو لوړ شور دا —

خپلو بدو له اشرې

عقوبت په غرغندو شي

چې ډکيا(٣) وي اوږد سري

تا له تک د ادم اړ دی

په يو ورځې برابرې

چې پرې دروي کائنات ټول

ستا هم هغه لا رمخبرې(٤)

PROPERTY OF ACKU 7990

دا چې خان خانتوره(٥) بولي

دا چې هر چېرته شمله دی

نيسمنان په کمنه(٦) نيسي

وايي سپک دی اړکجه دی

---

١- بې دولت = چې دوله نه لري، ٢- يوه ځري = چې يوازې وي، ٣- دکيا = چې لوګی کوي،
٤- مخبری = په برمخ، ٥- خانتوره = خان چې ترل پرانستل کوي چې د توری خان وي،
٦- کمنه = کم ذات - کم اصل - کم سيال

له ازل، وایې بــربـیال یو
نور په برخه شـاکنـډي[1]
دوی له مخ د خدایه رَغ[2] دی
نور له پښـو یې زیږ نده دي!
کومه نوره یې د ازل ده
چې شتمن داسې پوره دي؟
د نېستمنو کوم ګنـاه دی
چې نېکړي، نیم کـوره دي؟
او په هــره یو ښـو لنه
پرځ، پرېوتی او روړه[3] دي!
که د اصل کــړي پوښتنه
آدم‌زی ټول یو حجره دي
له یوې حجرې راغــلي
قام، قبـیل، تپه تپـه دي
لوړ ژور دی له زېښــاکه
شته په نیشو[4] آلــوده[5] دي
د بې وس د بې وسـی نه
وسمنی را زرغـــونه دي

---

۱- شاکنده = چې شاې لګېدلی وي، ۲- رغ = جوړ، ۳- روړه = تباه.
۴- شته او نیش = شتمن او نیستمن، ۵- الوده = ښبتی - اخته

لہ شتہ منو غلچکو بیا
مذهبونه بدرګه دي

دفرعون دکور د ننه
په پاچاخون آخر موسیٰ[٤] شي
دباطلو ښاماران تول
تارپتاري لہ امسا شي

○

عقل لیت دی، دیوکی ده
پرې قدم قدم رونیږي
کلیمه هغه شهلیت[1] دی
چې تول ښروند پرې جوتیږي

○

د آدم د شاه ځامنو
توری هر کله ښروندی دی
د وختونو په آسمان کې
په ځلا ستوري سپوږمی دی

○

د زړو پیرو کارونه نه میړونه به بیا کړي
شاه میړه کړي هغه چاري چې پیري پس پې دنیا کړي

---

۱- شهلیت = شه + لیت = لوی لیت.

○

چې په ځان پلن(۱) سوري نه شي
ټول جهان په ځان راتنګ کړي
له کوزاره چې دمه شي
هغه توري نېزې زنګ کړي
هو دیالي نېزه باز کوره
چې په ماته نېزه جنګ کړي
له یوې بلې تېرۍ ته
د رګي(۲) زمري غوځنګ کړي
چې د مرګ په طلب نه شي
ژوندانه ورځني څنګ کړي
ننګ په حق باندې کوونکی
لکه ځان باندې چې ننګ کړي
رنګ له حقه ځني واخلي
بیا وریا شي جهان رنګ کړي

○

کلیمان د ژوندون لاره — ربې د سترګو کې په ډک کړي
ځیرکان یې په لیتون کې — تر عمرونو سرغونډ کړي

---

۱- پلن سوري = په پسات پلن، ۲- رګي = پرهار ژلی.

○

دی پکار څه رنګ اړیکی
د آدم له بل آدمه ؟
دغه لویه کشاله ده
او دژوند لویه کړمه

○

آدم دغه قدر نه دی
انجړبنجړ[1] ژوندینکی
یو موندړی[2] زړیم اوده دی
د بدلون پدې څاندړه[3] کې

○

که آدم بې پوښه نړی
څه پیرمخی[4] رغانه وی
په ناتارد مرګ صبابه
میراث مړي هدایره وي

○

د بدلون پدې ناتارکې هم یو زړیم « دې څوندی دی
که صورت دی یوازې تیاده نو دا « زړیم » دی موندړي دی

---

۱- انجړبنجړ = الوول ، ۲- موندړی = راکس ، ناوی ، ۳- څاندړه = هستړ - فریم سکلیت ، ٤- پیرمخی = پیرخوړونکی - بدلیدونکی .

○

پیرخواره[1] یې له پښتو یوسي
چې موندلې یې وي اومړې[2]
دکچبه «زه یم» آدم وي
خپلو نغوتو[3] نه باد وړي

○

د آدم له «زه یم» پرته
نور هر څه چې دي نور پرې
له هر زبرې[4] د هجرې نه
لکه ځان هسې رازبرې

○

هم برحق هغه ژوندون دی
چې د «زه یم» په غبرګون دی
که وجود دی که ستولنه
کار د «زه یم» یې پاڅون دی

○

چې د «زه یم» په شرنګ نه دی روزنګړی[5] د بدلون دی
د هجرو په کږ کې اوسي او د سترګو تش الوون دی

---

۱- پیرخواره = پیوخوړونکی، ۲- اومړی = اوم، ۳- نغوتې = جذبات - غریزې.
٤- زبرې = هغه څه چې زیب ورکوي، ٥- روزنګړی = روزنه کوونکی - لویوونکی.

ټول فطرت يې خوري تالېزه[1]
آدم نړی جدا جدا وړي
دځانې سود غم خوړونکي
له حق لاري پښې پښا وړي
چې په نور وخپله ويش کړي
خپلې برخې نه سيوا وړي
چې مشال نور وته جګ کړي
خپلې مخې ته رڼا وړي
ژوند او مرګ يې دواړه سپکلي
د ځورلو چې دعا وړي
چې له خپل ميوه آګاه وي
د بشر درنې په شا وړي
اوښتون[2] د ژوند جامه ده
چې شي لټ . په هغو واوړي

---

۱- تالېزه = په جمع - تاله .

۲- اوښتون = انقلاب .

دژوندون په لویه لارکې
مشالونه بلول دي
دتیرو په تورتیپونو
لښکرونه خپرول دي
کتابونه دې ردجیل
سوزول او بادول دي
دآدم نه دې یادکړي
دعمرونو هېرول دي
که مذهب یې هم سړوینځي
چې باطل دی نېشکول[1] دي
که خوندي دي په کعبه کې
چې بتان دی لړول دي
په هرپل د پرمختیا کې
برابرا[2] شوي غورځول دي
چې ښکېل شوي په غورځنګ شي
ښکېلکونه یې غوڅول دي

---

۱- نېشکول = ورکول- په نیش لګول.
۲- برابرا = په پلنو واړه.

د سندان تندي به چړې کروږنځي شي
د درندو پلکونو جوړکه پرې ناتار وي

د مېړه نيستي يو څو ورځې نيستي وي
نه مېړونو شاعري نيسمن او خوار وي

د رند و عقيدو خلقو کې هېش له
ښبتنان د غرېدلو به په دار وي

چې بازونه يې په لاس کې چتې[1] کېږي
ځان به وپوښتي چې دا څرنګ بازدار وي

چې توره[2] د حق ملانو[3] خپلوي څوک
يو قدم يې په چاپه، بل په انکار وي

خپلې سترګې غړولې وړله بويه
که رڼا يې لاړ ليدلو له پکار وي

درباب خوار دې نشته آدم خانه!
ښايي خلق چې له ميلسه[4] دې ويزار وي

---

۱- چتې = ورکوټې مرغې

۲- توره = قانون - لاره - منه

۳- حق ملا = دحق ملګري

٤- ميلس = مجلس

ننګيالی نه اخلي لاس له خپله ننګه
اباسين کله پښنه نيسي له غورځنګه

چې ترڅو د ظالمانو نوغې شته دی
حقملان راپستنه شي څنګ له جنګه

پوهکړې د بې پوهو نه قلنګ خوري
او تول لاندې د کليمو تر قلنګه

چې يې مټ د غليمانو وي کتلی
نه ويرېږي يې له تشه ډنګه ډ ننګه

د مردې توره ميدان کې لا ښه کېږي
خلاصه نه وي د کاټی[1] توره له زنګه

پخپل زړې کې زرغون شه او سمسور شه
څودې نه ده لا کوټی[2] خاورينه رنګه

چې يې جسم وتن په مورکوپه پړواوړي
خود غه ته وي کوښې د جهان تنګه

---

۱- کاټی = تيکی - چړتون

۲- کوټی = د دانې کڅوړه

یو بری د یو جنګ غالی دی خوندي که
بیا په بل میدان بر ښنا او تالندي که
چې دلوی ښتن د لاسو سره بنا يي
شاځلمیا! ځان په داسې کاربندي که
په حجرو په جماتو نوکې تور تم دی
د ډیوې غوندې لنبه دې په تندي که
د میړه د ځوی آواز له خلقو بېل وي
څوک به يې ښکته په تولنه کې ګوندي که
چې د خپل عمل لاره[1] سترې کړل
څوک به ښک هغه وګړي راژوندي که
له غوجلې د ښارو و به ښکته وځي
چې په مینه مینه ښت ته غورځندي که
چې يې وینې د نهوړي له چا نه وي
هغې پاڅي بې وسان په ډاک ګوندي که

---

۱- لاره = لور

خپلې غوښتې ته دغاړې

له خپل تنه پلواښنه[۱] شه

د ځپانده اباسین خپل

لکه غاړې په ساته شه

دکړیږ سختې په ځان کړه

پسته باز په الواته شه

په خپل ځان قید ونه کېږده

زرغونه شه او بیا شته شه

پولې راښکه، پانگې[۲] کېږده

بیا په زغاښت لکه میړه شه

د خښتن دلارې مل شه

له خښتن ځنې لاړغه[۳] شه

په ربیلو چې ورک نه شې

په لوښنه[۴] لکه واښه شه

دختیځ له الا الله -

لا الله د پرېواته شه

---

۱- پلواښنه = مرورې- پلکواښنه ، ۲- پانگې = میږ- ډکځ- مرام
۳- لاړغه = لړغونې- وړاندې، ٤- لوښنه = خصلت- خوی

○

په ټولنو لیوګان که دي
هر وګړی لوی اوکړ(۱) دی

لولنګ ځکه په نیش دي
درناوی چې په دوتر دی

ټول په تومنه آدم زاد دي
څوک تاله، څوک تالانګی دی

چې درنه ډله(۲) یې مله(۳) ده
د هغو سوی په سر دی

داکندی دی د بې ننګو
څوک یې موږ، څوک یې نهر دی

هر ټولنه پانګه واله
دخان بدوله اشر دی

عقوبت به غرغنده شي
داچې نن ډُکیا(۴) سوسر(۵) دی

---

۱- اوکړ = اولال، ۲- ډله = ګوند، ۳- مله = ملګری، ۴- ډکیا = لوګی.
کوونکی، ۵- سوسر = د ډېرو سپیاکو او دچې نری نری لوګی کوي.

چې ژړانه ښکلې بدې مې
وابه نه خلې تورې څټې

په ګڼونو یې پسرلی شي
چې څوک ونغري سکروټې

خپله ګټه دې نن څه ده ؟
چې ستایي د نیکه ګټې

د یوه ماته، باقي سوی
د تورګټ سوی دیوټ یې

نه نښتر او نه چنار شوې
څه د تورو خاورو خټ یې !

دا میدان د تېرو تورو
ستا مصري تورې دي سمټې

چونکه ایره یې پاتې شوې
وې انګار د دریې ستې

حق ننګانو ته وریتېږي
د بې ننګ هر کاله بټې

لات منات چې ګډاري څوک
شي پخپله یې ګټې

خړې، ځکه شوې، خیالي نه شوې

د «لا» شي ځني شی نه شوې

د جس ترغی نه نا مینده

تَل نجه شوې کنی نه شوې

تشه شخوله - خالي تیکی

بمبل توره، توبری نه شوې

له حجرې تر سرې راغلې

لاپه «زه یم» سړی نه شوې

له مذهب چې ملستل دی

لدې مرېنې تړوندی نه شوې

انځاره کې چې دی پروت دی

هغه ستر آدم زی نه شوې

مسنګیری د رته آسمان دی

ځکه باز، باتور زی نه شوې

هر آدم چې دی فرعون کړ

یې بلواک، ځانوکی نه شوې

---

۱- انځاره انځور- زړی- نقش

۲- ځانوکی = ځانواکی

د وګړو سالار پړدی
خو سواره چې شاهسواران کړي
د کوڅو لارو کسو دري
ځلن ستوري د آسمان کړي
ګوګوشتان داومو ختنو
سندان سري اتلان کړي
لوړ او کوز سره یو سیال کړي
اړوپېچ[1] واړه یو ځان کړي
چې سړي یې نه سړی کړل
راغوز او هغه بتان کړي
د لالونو په ځلقولو
د مشکنو بازار وران کړي
چې جس من پکې قدر پری
را د بر هغه دوران کړي
داد نوم مسلمانان ټول
پر ریښتیا مسلمانان کړي

۱- اړوپېچ = خپلوکي په ضد ضدی - په غوټو پړو.

په میروکې د ډېر ګلونه راټوکیږي
سره پوپینو د لاله یې جوړ ده

ننګیالي دي چې د لوی ښتن په تاریږي
پوره کړي د نړۍ ټوله بار[1] ده

ته تنزیږي، د نیاده د بازونو
ډېري ځکه د ژوندون دی اداره[2] ده

غزا وشوه که په نوم کلیمه کوي
زرغونه دي له ژوند کومه کلیمه ده

هونایي[3] په ټپوږوند دی، ښکاریږي
که نه ېي نن هم پرته هغه دوګزه ده

د ګزي[4] غشي دي هر وختې په سر دی
په دیدوان[5] باندې دي اره پره، وره ده

صبارا ښکه د شولان کټوته مټې
که دي نن کټلي قام لره اوکړه ده

---

۱ـ باره = مسئولیت ـ ذمه واري ـ پره، ۲ـ اداره = وړانه ـ کټي ـ لوټي،
۳ـ هونایي = ښکاري، ٤ـ د ګزي غشي = دوړې پري ګوزار،
۵ـ دیدوان = شیش ـ ځیرکونه.

لکه خلق هسې ټولنه
لکه کوږ هسې يې غار
لکه اوښ هسې يې سوري
لکه پښه هسې پېزار
لکه باز هسې يې ماري
هسې باز لکه ميشکار
لکه ږيره لاؤن هسې
لکه سر هسې دستار
لکه توره هومره کټه
ژبه هومره څومره کار
داوچت الوتو پانکي
دشهپرو په مقدار
د ديوې رڼا ترکوره
نمر په ټول جهان اوښار
د بې ننکه په رنک ډېر وي
ننکيالي نه لري سار
چې د لارې اوښکو نه وي
په هغو جوړېږي لار

لا یې ډېر وکړي ګاندي
یو منصور خېژي په دار
د بې متو وار څنډېږي
د مټ دارو وې بې وار
د زمرو نه اخستلی
سورلنډی[1] شي کله ښکار
د اَتیانوس باری وي
په ملخانو کړمار[2]
کلیمان نه شو ټول عمر
له خدایي چارو وزګار

مذهبونه دي پوچ شوي غربینونه[3]
مذهبیان د خپلې ماتې بیرغونه
د هغو د "راتاندون"[4] طمع عبث ده
چې مذهب یې رواښته[5] کړېدي هډونه
په هغه سالو چې ځان لره دوړېږي
دي عبث د انځورونو کړاوونه.

---

۱- سورلنډی = کیدر، ۲- کړمار = یوغږدی، ۳- غربین = یوټوپک،
٤- راتاندون = بیاراغبرګېدل، ۵- رواسته = وابسته.

له مذهب یې چې تودې وینې کتکل شوې
مسلمان بایلل ملکونه سنګرونه
له مذهب ځنې لوی شرک په جهان نشته
لګولې یې په نیش دې امتونه
د مذهب دغونډلانو[1] تنستو کې
ګل ډیوکې[2] دې دعلم د یوستونه
له مذهبه هک حُلمی ټول ریز کې شي
ریزکونه کله کیږي لوی کارونه
ټکی ټکی دکتاب نن هم هغه دي
خو مذهب ترې نه وښکلی دی ساهونه
چې تر څو دغه مذهب او دا مُلا دی
وي تالابه د تالا قاموسو خونه

پوخ سنګر دی شاه مردي ده
توربازي دی تیغ بندي ده
له باطل د ځان ژغورنې
یوه لاره ملا بندي ده

---

۱- غونډل = غټ غښتلی
۲- ګل ډیوکې = د ګل ډیوې

له فطرته دي پرده ده

له فطرته دي سرزوري ده

کليمه دي سرتوب دی

سرتوب دي سرهسکي ده

د بل غم هم د ځان غم دی

دا پښتو، مسلماني ده

په ژوندی کلیمه بیا خلق ژوندي که

دا له واړو وړستو شوي بیا لومړي که

دا چې خاوري يې له مخه نه چاڼېږي

د سپوږمۍ په دود غونړې يې پر تندي که

ورونه ورونه سره غوښې په چاړه کړي

له ټوليز ژوندونه ورکه کوند کوندي که

شاه میړونه له زرګونو ستورو تېر شول

بېړي را ښکته خپل ملګري ګرندي که

د هغې بې ننګه خلقو مرګ روا دی

چې ګزران د بل په سوي کرپندي که

د پسرلي درنه وړېځه شه په خوی کې

ځان ورښت، کله برېښنا او تالندي که

شاه ځلمي چې د آدم په ننګ اوچت شي
«شاه پلکونه» بیا زغمل په ډال تندي که

○

د هندو خلکو لاس تېول نه ده
دستر کوړو کاګیره تلل نه ده
د ایلتیانو[1] کلي وړانول نه ده
د راسمانو يې سمول نه ده
که اوندي جوندي[2] د دوپړک[3] وي
د یکرنګانو غوځي کول زده
مذهب له ځایه راغورزول کړي
کتاب يې ځای ته برخېژول زده
چو رنګو رکان هم کړاو لي کړي
لکه باز کله اوچت وهل زده
چې فرعونان يې موزي[4] کړان کړي
نو کلیمان يې تورنه ول زده
د آذرانو بتکورکي[5] نړول
د خلیلانو کعبه کول نه ده

---

۱- ایلتیان = پساتیان - وړانې پیداکوونکی، ۲- اوندی جوندی = مزغړونی چې غوځې ړمبې نه وي، ۳- دوپړک = دوړنګ - منافق، ٤- موزیکي = چې د هیڅ بنې نه وي تش کټ پرې ډک وي، ۵- بتکورکی = بتخانه.

دباتور په څوشهپرو خپلولو
منګیرک او غلیواز نه باتوریږي

دیو بت په لړیدلو بت غلیمو!
سومناتونه په کعبو کې نه بدلیږي

له کیکره د نښتر پیوند خوړوکی
نښتر هیڅکله نښتر نه پاتې کیږي

چې په پړوکو دي وژلي مذهبونو
هغه مړه په مذهبونو نه ژوندیږي

چې د زهرو ډک لښتي پرې راسواره وي
دغه سوي چنارونه نه تاندیږي

د قرآن واره رښتلي عقیدې نن
د مذهب په کتابونو کې ساهیږي

د تیرو سره ملستي بناپیرګ نن
د رڼا په تکي مرګ ته ببریږي

شاه ځلمي دی نوی ځمکه آسمان غواړي
د زوړ شوي په ځای نوی جهان غواړي

د خپل "زه یم" سرهنګي پې سلامت یه
مریتوب نه - ملکیري د یزدان غواړي

ننګیالو کره غاړه ما ته اطاعت ته
په لټون که د هغه دي خوځان غواړي

په دنیا کې یو کار هم ناشوني نه دی
یومخیزي(۱) ځیګر وره ځوانان غواړي

کشالې غوښتې نوري د آدم دي
ژوندانه نوی تفسیر د قرآن غواړي

په لښکو د لیشتینکو کټې نه شي
د ژوند ستونځې میړني قهرمان غواړي

په یو ماره که ګاوز شي، سود یې نه شي
چې ژوندي وي یا نوی ماری زمریان غواړي

---

۱- یومخیزی = چې مخه یې یوه وي - د یوې مفکورې.

عقل هغه وهندی باز دی په لاس
چې د پر اوچت اوچت ښکارونه کوي
ښکته له ځمکې نه تر نمر، ستورتلیز[1]
کراولې کړي، یرغلونه کوي
لوګیز[2]، اوړیزه[3] که یې لاره نیسي
له الوت کله پرهېزونه کوي
رهبر، کړاو دی ټول د عقل چې نن
بربینښ د ژوندی تومن بخونه کوي
د آدم کار دی کائنات پرنه ول
بر هغه قام، چې دا کارونه کوي
چې په فطرت یې ده لتی اړولې
د هسکو ستورکو معاشونه کوي
عقل بهیر کړ غورځنګي د شعور
ویرو ویرانې ټول مذهبونه کوي
پیاده له عقل کوم وګړي چې دي
د بل موټانه دې سوالونه کوي

---

۱- ستورتلیز = آسمانلاره - کهکشان، ۲- لوګیز = د کانزویږ یا نیبولا،
۳- اوړیزه = هغه نیبولا چې ستوري پکې په زرغونېدو وي.

حق نه په ښکلي، فطرت په ترخې
تشې ځاندې وي، زوري اوبه وي

عقل يې شل وي، هڅې يې کټه
په غتو کوري، ولې ړانده

نه پرې ودانه، که دوی ژوندي وي
او نه پرې ورانه که چرې نه وي

دځوانمردانو دقط نه وځي
نه يې خواږه وي، نه يې ترخه وي

په نن په «زه يم» دوارو نيستمن شي
ځواک يې خساک، خواږه او ښنه وي

په زاړه شخوند کړي، نوي ترې نه شي
نوي بريد ونه خو دمېړه وي

چې يې راغونده کړي واړه کړلي
ديو ګنجکي دا ز بنت نه وي

د لسو کلنو د لوڼو نه

اوربين ستوري راغونځيږي

ستورتليزې سر وهي لا

کائنات لا پراخيږي

که يو ستوری ورژيږي

نوی سل راوتوکيږي

د ښوندون زرغونېدو لـه

نوی ځمکی سا دينيږي

چرته ښوند دی په بخښنچه

چرته کچ، چرته ځوانيږي

د زرها ستورو ميروکي

د ښوندون غبری غزيږي

يوه ستا دا ځمکه نه ده

چې ساه دار پکې هستيږي

شخړې ځمکې ښکته بورته

ستورتلينوکي څرخيږي

هغه ځمکه ستا دوتر دی

چې دې لاس وررسيږي

(c) ketabton.com: The Digital Library

عقوبت به له دې ځمکې
درته کېږي په سر کېږي

د مېړونو ستورو بېړۍ دي
له سپوږمۍ او ستورو تاوېږي

د پېرنوي کور لټون کې
د آسمان لارې چاڼېږي

عقوبت دا ځمکنی به
ستورګۍ زو ته ورسېږي

د ښوندو ن خومره رازونه
به په ډاګه وغوړېږي

قیامتي(۱) پاینده هغه اوښتون شي
لا الا سره چې کله یې برغون شي

د عبرت مرې یې ګرځي په ملکونو
کوم فرعون چې له کلیم په ستور برېښون شي

د اولس وینې رهبیونکي هله ورک شي
دربړیا(۲) اولس چې کله په پاخون شي

داو یار لې څلي هسې ولاړ نه دي
د مړدي کارونه ډیر په شواخون شي

چې په سین داوراو وینو شي وریورې
قافله یو قدم مخکې د شړوندون شي

که هر څومره سنګرونه له ځان تاو کړي
عقوبت د ځمکې تبي هر فارون شي

چنیشني(۳) عقیدې چې غاړه باسي
د هغو خلقو ټولنه مړیستون(٤) شي

---

۱- قیامتي پاینده = تل پائیدونکی، ۲- دربړیا = خطر- نتلی- ځپلی،

۳- چنیشني = چې چناسکې یکې شوې وي، ٤- مړیستون = هدیره.

د دوران په زلزلو غرونه رارغړي
په شګلني ډېروکی څه له وياړېږي

تلناوونه يې رواسته، موږ یې خوړلي
چاڼ کېږدی کې به تر څو پورې اوسېږي

د پړنسنبتر په چورلند وځمکې له تللي
ګچه ډيلي! په خپل خېزڅه غلطېږي

د سور سين چپې دمه وښکه له يادو
ای فرعونه! چې کليمؑ پسې پاڅېږي

د ملخ څانګ سره دې ملا شوله دوه غبرګې
ته لا ځې د آتي بارته لاندې کېږي

لا اله بتکور کو ته ښکرپوکل دی
که مومن يې ترووستي بُت به جنګېږي

کلیمه یې چې په زړه باندې سنګر شي
هغه قام هغه وګړي او سپین غر شي

کلیمه د سړي برش د شین زمري کړي
لړو[1] برورته د ګډو خپور لښکر شي

کلیمه لکه بوټه چې د اکسیر وي
مس ځوانان چې ترې نه وځي نو سره زر شي

ننګیالي په جهان پټې را تلې نه شي
دوی د هرې سرخیرې[2] وتلي سر شي

د هر کور انګړي تود، تیاره شي ورکه
میړني ځلمي په هر لوري چې ور شي

له تونګه[3] د عیسی چې نمړې وخوري
که د ختو کوشتان وي په ورز شي

د مذهب د مدرسې نه هیله نشته
چې یو چینې هم د بدر لیچور شي

---

۱- لړه- کوز
۲- سرخیرې- د جنګ غالی سرپړه
۳- تونګ- شکور

○

دغلیم د برید او چغې(۱) حاجت نشته
لاس تر کریوو چې پخپله سنګروال شي

دکور، قام بدخوړمنځي(۲) په ځان ناتاردی
په تیغه که باتوران وي تش پیڅال(۳) شي

تانک دکټي، دیرغل یې دلاس وځي
چې دچاراتلونکې توري نه اتال(۴) شي

ځلمي واړه په خپل اصل دي لالونه
دروزلو چې څوک نه وي کوټي لال شي

جماتونه، مدرسې او چینې د پرشول
خوله چاهغه بانګونه د بلال (رض) شي

○

چې دخاورو له کالبوته
اوده «زه یم» برسیرن شي
په اجل باندې جل را شي
بنیادم و لاړ شي تلن شي

---

۱- چغه = اپه، ۲- بدخوړمنځي = بې اتفاقي - اروپېچ، ۳- پیڅال = د باتورغل - غرباز، ۴- اتال = په طمع - په اسره - معطل - ایسار.

د ژوندون د غور ځنګو نو لوی میدان دی
چا ته پوله نه سپوږمۍ او نه آسمان دی

د فطرت غیږه پرانستې ده هر چا ته
بو د هر چا هم په قدر د خپل توان دی

دا په تا ده جوړوې کا ښتی که توره
خپور چاپېره د جنګړو واړه سامان دی

نیمګړتیا که مې تو لې اړ په مټ دي
مټ کول د بنیاد مو پوره په ځان دی

چې یې زده د سوکو وینو کښېدې دي
د هوښۍ ډانګه کمې پدې جهان دی

د با تور لمثی دنیا ده بېله بېله
یو د ځوړې، بل د لوړې وږمې شان دی [1]

چې سر مزې د نوښت [2] یې په لاس درکړه
د لوړې برید په ننداره دی او س یزدان دی

---

۱- وږمې شان، وږمې انوونکی ۲- نوښت، پیلات - ابتکار

چې د "زه یم" تول رنګونه
یکمانه شي یکرنګ شي
لکه غونډې چې چوې شي
اباسین شي په غورځنګ شي

○

سل بخونه یې چې یو مخ شي
"زه یم" هله خان دوران شي
کائنات کړې د پښو لاندې
سلاکاره د یزدان شي

○

چې یې "زه یم" په تنه کې
لکه بُت سلګون سرې وي
آدم زی شي سل لاریزی
له یو دره سل درې وي

○

د توریال زړې راخېژي په سوسر کې
د هوډې هڅې و باسي لارې غر کې
تور بر سینونه يې پخپله غماز کړشي
میړه کله پټېدې شي په لښکر کې
"ستوروونا"[1] کړښې د څمکې کړلې ماته
څخوي بیرغ د ستوروخېل دوتر کې
مرجونا د نهنګانو له کاله نه
ملغلرې راپنه کړېدې څادر کې
زهري خوړه په یوماري وړپړوځي
بله ماره يې نیولې وي نظر کې
مړدکي، دارو، بټکۍ او اوربشینه
دغه توکي د مېړونو وي سنګر کې
هره ونه خپله مېوه نیسي
چامونډلې دي کروسکې په کیکر کې

---

۱- ستوروونا = (یه و ژن د مرجونا) د ستوروو شکاري

زردار هغه کورکښان دي
چې ثړوندي بنیاد مان خوري
سړیخور په پټه یې نه خوري
سبه برسېر یې په میدان خوري
د بې پرسه کلو خلک
څه مُلا ، څه دوتریان خوري
یووَری یې په شا پرتوي
بل شني لښتي بارګیران خوري
د باطلو راجواړه ده —
په برمته یې بې کسان خوري
روایات راپا خېدلي
په حملو حملو قرآن خوري
د آدم په بدې ورځې
کلیمان وارو خپل ځان خوري

چې په منځ د هوډيالو ځي
لاړ يې خودکړپې کړپې وي

چې په څرخ باندې سوري شي
د هغو تورو لاشې وي

چې له اوره ځنې ونه ځي
نو هغه پڅې اوسې وي

له چېو چې انګوڅه شي
پولادي هغه سينې وي

چې جنګړېږې ژوندانه وي
د برم دکې يې شملې وي

چې د مټ مجال يې نه وي
د هغو نا ندرې کيلې وي

د باتورو هسې کور
څه که يو موټې بنې وي

چې وهي د تنګسې توري
په هغو کله تنګسې وي

چې ژړياني يې تاو نه شي
نو هغه ليندې پرکې وي

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې وهي د تنکسي تـــوري
په هغو کله تنکسي وي

سپوږمۍ ، ستوري ، ستور تیلیږي
د میړونو برآمـــتي وي

د سر هسکو غورځنګونه
د تاریخ زرزریـنـي وي

د اخلاص د شاهسوارانـو
منزل لوی ، لـرې توښې وي

چې منګل یې د زمرو وي
د هغو مارې ســکـې وي

په راسمو باندې غــرونه
د مالوچو پاغوندې وي

پرناورې ســنګر بایــلي
ویښې سترګې پــلیــتې وي

دوزنګ تښتي ګڼ پرتانه
چې د بد رنګیسـي وي

د میړونو لوی لاســونه
خپله توري او بلـــې وي

د ګیدړو په نصیب کې
د زمرو پاتې درنګې وي

Reserved -1-

چې یې پښتې وي غزولې

د هغو ډاګې سپیرې وي

چې له ژوندو ماتې وخوري

زور یې تول په موسلې وي

د مرشواکو مسئلو کې

هم د مړو مړینې کیسې وي

کونبې هم ځان سره کوربکړي

چې یې خپلې پښنې کړې وي

دیوروغ دسیالۍ نه وي

د ړندو که پرګنې وي

○

قام دلې دلي تورو توربرېښ کړي
دغه کمال د اولسواکۍ[1] دی
هر دليت خپلې دلې ته سنه والي
دغه دستور د دله بازۍ دی
پلويان زوروي، ناحق به حق کړي
"قامي[2] جرګه" کي سوال د لېږه دی
چي "جرګه غړي[3]" ټول شته منان وي
واره هم واده دی و ننده ونډه دی
کاواکه دروغي واکمني دلې
څوک يې دمخې د کاواکۍ دی
د "سلا[4] غونډه" سپيځلي لار ده
ولې هله چي د حق په تار ده

---

۱- اولسواکي = ديموکراسي.

۲- قامي جرګه = پارليمان.

۳- جرګه غړي = ممبران.

٤- سلاغونډه = د شورئ غونډه.

ولي هغه چې د حق په سر يې ننګ دی
واړه شروند يې د کتاب په رنګ کې رنګ دی

چيلې ناوښکي په سمڅو، په لغمونو
ببل توره د باطل سره په جنګ دی

د جهان په "ډنګ قامتو" سراوښکلي
سالاري يې په نړۍ پورې قلنګ دی

هم د علم په دنيا يې بيرغ جګ دی
هم چاپېره يې د ښه سړيتوب ډنګ دی

هم يې کته، هم يې مخ ملازی ورکړه
خپل پردي يې په نمانځنه باندی رنګ دی

د زيارت خوړدو ته ناسته بې کتابه!
ستا کوربلاري ولايت د پلي لنګ دی

منکران په دليلونو منکران دي
او مُلا د بې دليل مذهب امام دی

روښنان خياله نه کافر دي، نه منونکي
د تسپو سره ګرځوان يې له ناکام دی

هغه څرنګ به د بل کاسه ډکه کړي
چې يې خم پخپله وچ او نسکور جام دی

پوه ګړي توري تر هېري، څې په دده
چې ملا ورشکاره کړي کوم اسلام دی

لېشتکي له لېشتکي مفکوري زېږي
ځان وګوره په جهان دې څومره سام دی

مذهبونه په کړي د نيمسانو
د ښته منو د خوندي[1] ګټو سمام[2] دی

خدای ژوندی مال يې ميرات دی
څه بې کچه ناروا دي

دي د هغو لو چې د خدای دي
نه زما دي او نه ستا دي

دا د الله د دوران سر دی
دوتريان چې په ګرباڼ دي

د هغو لپچې تاوېږي
له پېروونه چې په غلا دي

له زما، له زمانې نه
پساتونه په دنيا دي

---

۱- خوندی = په امن - Safe ، ۲- سمام = بندبنا

چې لــــــیـن تـرې لاس نیو کړي
شاه میـــړونه د الله دي
امانت د اولیا دی
چې له تا ځنې ســـوا دی

○

چې د حق او د باطل دغره راشي
د بې لارې پلار نیکه په لاره مه شي
چې توره[1] یې د بتانو لـــــړ ول وي
خدای دې وکوماري ته هغه میړه شي
چې یې غل غدو له ویرې بلوسه کړي
په مورچلو دقام ویښ هغه لیمه شي
چې مرشد واکې ولسونه پرې رغیږي
که یې سل ځله توکي، هغه تارخه شي
څه زرغې زرغې کوې چاقهرمان ته
که ملا وتړې، هغه توریال به ته شي
غرونه غرونه واورې هله به شي ویلي
چې د نمرېشان پرې سورې ایشبدځ شي
چې یوه پلار کنې ومانځې اولس تول
ته به هم د اولسیاسو په وله[2] شـــي

---

۱- توره = دستور- قانون ، ۲- په وله = په دوډه- په بنه ورځ

چې ژر شپېل دې په ژرشه د آسمان ښخ کړ
بیا به هله دسړي په نوم باله شي

چې د کړاو تندې خولې خولې شول
دقام جوشې بیا پلوشینې شولې
د سربښندنې کرامت وکوره
دازغوغېږې ګلورینې شولې
د پلار خېرې دې کائنات دی واره
کاش چې دې تورې بیا پلرینې شولې
باتورزې خپله به راوزیږي وي
که د ېروکې دې مابېمینې[1] شولې
غزاو راغه يې شېخ ملې ونیول
چې د زمري ستوکې تندرینې شولې
د تورانې لیونی کوریکې سره
ځانګې غړانګې سندرینې شولې
چې بیا په رحل دې کتاب وخاته
ذرې بې ارزه دې نمرینې شولې

---

۱- مابېن = یوغر

کلیمې لره شړوندي ژړونه پکار دی
او وله لوټې په پنډه کله پیدا کیږي
په خوږلن کې له بحرکو توغوېدونکو
تر آسمان شړېکوونکې او تاند پسرلي
چې پلنو دتنې وچ ځیلی شړوستي شي
په کږووږو شپېونه راتوکیږي
د مذهب په کږ خوږلولختو لهرو
د سره سورې د قاموسونو جوړېږي
هیڅ ځلمي بویه بیرغ د محمد له
دا په خوار ولیشتکو نه پورته کیږي

مرده یوکي مذهبونه
لاړې نه شي رهنمولی
د بوزرګ انقلابونه
آذر نه شي راوستلی

د ژوندون اوږدې کیسو له کائنات به چاڼول وي
له موجود ځینې پښتنا به ترلوکیږي پورې تلل وي

○

چې په هغو شرعونو ننګ کړي
چې پرې کسرې وي وخټونو
ګوياځان له توزيز[1] کړي
د کورونو، کفنونو

○

د باطل سره په جنګ کې
نه نيم سول شته، نه سرۍ شته
د خليل همت دې تود اوسه
د آذر چې بت کره شته

○

د هند وعقيدو سبا رکې
انقلاب را برسيرن شي
د زړو خدايانو مخ چې
ولسات ته ګرغيرن شي

○

بتان شي د ځمکې تبې
بتګورونه رانسکور شي
چې د زړونو په وړشو کې
حق زرغونه شي، سمسور شي

○

---

(1) توزيز = بندوبس

○

خلیلان چې له تولــــنې
د خدایانو وهــکول کــړي
نولو مړي د دې خدایانو
خدایي وړ پوچ کول کـــړي

○

کلیمان د فـــرعـونـانو
پاچايي هله غـــوزار کړي
چې بې لاړې ولسات تول
د دلیل په زور په لار کړي

○

د کلیم د درنې پـــرګـــې(۱)
خلقې وې وارې زبـــرګې
هم یې کټــه، هم بخښــنه
هم یې مټ وي هم یې سترګې

○

چې د وخت ارې کـــړي کې
ځای ټینګ لکه د غـــرو
د خپل پوخ «زه یم» په مرسته
د همه پرګنو ســـرو

○

---

۱- پرګې = پرګنې.

اوسې تش د عقل اند ښنو سره
ځې په تیاره لار او ورکو سره

عقل که سقراط دی، بریالی نه شو
ګریوی په لاس د پرشو کشالو سره

ستونځو د ژوندون له برمه پرې یستل
دل یې چې سپوږمۍ ستوري کړل ښو سره

لا تر اوسه لرې له خپل ډکه یې
لارې کله مارکس، کله روسو سره

کله په یوې کله په بله ځي
دروې دې نیلي د برېبوکو سره

وینې او ښکې وچې شي لنبې کښېنې
عقل چې بلد شي الله هو سره

راشه د کعبې در شله ونیسه
مل شه ای ځیرکه کلیم زو سره

آدم زی له مرئیتوب څنې آزاد کا

د "مَا کَانَ لِبَشَرٍ"(۱) سبق ور یاد کا

چې د بل د خولو وږم تې راخېژي

د هغو ماڼو کړ کچو خوړ بنیاد کا

د آذر د بُت خانې لړولو ورستو

شړې وړا وړه کور د خدای آباد کا

چې صبا په غږ قبدوشي کلیمه وایې

د دوران فرعونه انن دې خدای ړایاد کا

په لوخړو کلی پټ، په وینو ډوب دی

د کوچنی فکر سالار دې څه فساد کا

د مړي په ځای څښتن چې زور ته نیسي

د عمرؓ انصاف به غل عقوبت ساد کا

له کوږوانه د فطرت یې چې لاس وښکه

هغه قام به زر په غاړه کنډ کچلول کا

لا اِلا چې یې توره شي د تیولنې

هغې ږب به یرغلونه د منګول کا

---

(۱) (ما کانَ لبشرٍ ان یؤتیه الله الکتاب ... ثم یقولو للناسِ کونوا عباداً لی ...)

(c) kitabtoon.com: The Digital Library

حق باطل ته ږي تور بربنډ دی ټل راغلي
حق به نه وي چې باطل سره نیم سول کا
د ېږ قامونو نه دي غوندي اوبو وړي
په سین غاړه له بارګیر خوشي پرزول کا
ړسیدلي په خپل "زه یم" شاه میړونه
باچاهي زرغون د خاورو له کنډول کا
دا کاني یوازې تېر و خلقو نه کړي
خلق اوس هم په ژوندون لونه ښخول کا
د دې کلي خلق ټول سر پخواره دي
په پر دو فصلونو بلوسې خپل ته شپول کا

چې ځانګړي سود پسې یې شي وګړي
په ټولنه کې سوراوړ په غرغنده وشي
د شته منو شته مني چې خُمار وکړي
انقلاب د نیسمنا په راتلو شي
چې بې وس دي دو سدا رود سیالي شي
دزرداره تېپې دا کله پیرزه وشي
دو تریان د لونګو غمونه نه خوري
له لیوه کله زړه سوی د شپنکو شي

(c) ketabton.com: The Digital Library

زر داري د پردوو ينو لوى اغيرږدى
اغيرلى عقوبت په چاودېد وشي
الا مي د او بښتون د قلِ العفو ؟
دوترونه چي ورو ورو په کمېد وشي
هغه کار چي کليمانو ته اتهال دى
هغه کله له مارکس او له روسو شي

له دستور د باتورانو چي بې ډک دي
خود په جاله کي پيدا يې مښکيرک دي
چي يې ژوند د خدائی لاري په لاروي
هغې سيال دى، هم برخين، هم په خپل ځوک دي
د مېړونو لار ده اکي آسماني لاره
منزغړو ته لاري تل د دوپړک دي
له ساده ايمانه ځار يې فلسفي شه
څښتنان چي دلروکي د بتک دي
شپنکی کوره غرضونو شهنخان کړل
په برمته ارم په غوښود کنډک دي
د ننګيال واړه کارونه هلي ځلي
دنيسمنو، بې اسره و په کومک دي

تورښنکلي[1] پرې برې راولي نه شي
چې د بدر، د حنین توري ترملا دي

الاجي غونډې دانه راوړي یو ځای له
شاه ځلمي لره شاه ځلموکه شاپه شا دي

ننګيالي د سرزړوکي د تور سرو
ننګيالي ځکې شملې داولیا دي

فرعونان يې چې په مکر کوټ ښکار کړي
زر کول يې بيا کاروونه د موسیٰ دي

يو کتاب و چې امت پرې ټول راټول وو
يو کتاب دي، او لړوه[2] دوه اويا دي

هر ډلیت[3] دخپلې ډلې د وزړی[4] وايي
او اَمي خلق حيران، چې ترې رښتيا دي!

---

۱- تورښنکلی = چې توره ښکلې لري. دباطل ځواکونه.

۲- لړوه = ګوندونه - ډلې.

۳- ډليت = د ډلې غړی.

۴- ډوزی = ثنا - صفت.

د زاړې(۱) تنګسې کړښې کې
ژوندانه کله ځائيږي
ژوند غزيږي، اوچتيږي
زاړه خوري او سمسوريږي
د زاړې وجود د خير دی
چې پرې «زه يم» شيرازيږي
د وجود دنيا تاغير خوري
«زه يم» کله تاغيريږي
د ښښتن په ليکه «زه يم»
خپل قامت وته رسيږي
د زاړې ځاندره شي رنګه
«زه يم» هر کله پائيږي

ډله د خدای ماتې خوړلې نه شي
څوک يې تړلې پرانستلې نه شي
توره به ستا د موزيکې توره وي
د ميړه توره پخېدلې نه شي

---

۱- زاړه = (الکه والو زاړه) ماده - چې زيږول کوي - Matter

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ګیدړ برخې دي هر چا وخوړې
د زمري برخې څوک خوړلی نه شي
که بُت خانه د پلار نیکه ده نو هم
خلیلان غلي کېناستلی نه شي
چې یې بیرغ د الاهو رپېږي
څوک په سنګرې ورختلی نه شي
زمانه هر څو مروکه مخکې ولاړه
له کلیمانو مخکې تللی نه شي
د غیرتمندو د کټ پښې تر ناسته
تا عزت داره څوک کښېنلی نه شي

د خیګونو[۱] خاوندان چې ارو بېج شي
زرسوي به څوک جاله وایه ځکو در ته
ځاني سود چې مدعا شي د وګړو
بیا څوک اروي بلرونه پردې ور ته
په زنارکې تسپې وپیلې خلقو
یو مخیزي مسلمان چې لاړ شي چرته!
د خلیل نوم د ثواب د پاره اخلي
ژوندانه دي بتول ناري وهي آذر ته

۱. خیګ = شناز

خدای دي توان د مهتو بیات دشا ځلمو کړي
چې په نړه ورکېږي دي لوی غمر ته
د کلیم د پرې خلق هم هغه دی
نیمګړتیا وې چې د خدای ړسوې سر ته

○

بیا پیزار د محمد(ص) په وینو جب دی
د طائف خلقو دی تیږې بیا وروړلې
دا جنډې د کلیمې چې چرته ړپي
دا د بدر له میدان راغلي ستوړلي
د کعبې په توره کتبه لوظ کوونکو
د سرونو په باز وغاړې خلاصولي
صدقه د وینو سرو د پښتیا لوده
چې نن قام د خپلوا کۍ خبرې کولې
د سمسور فصل رشه پیمانه کیږي
د تش تور کې پیمانې کله چاکولي
سمندر یې خیرې غوښ کا خپلې غبرګې
که اوبه دالکډو ورځي ختولي[1]
ساقي خُم ته د شا کاسه سړه نا ست دی
خو که ستړګې لیونو بیا وغړولې

---

۱- ختولی: چې د ختو لهو ړکې وي.

پڅه مه شه د توریال د مړدې توره
د منکرو لا ولاړ دي سنګرونه

د ښونډی مفکورې[1] خپله دومره څواک[2] وي
بې لښکرو کړي ړالاندي هېوادونه

انقلاب د کلیمې راغلی نه دی
ځي راځي بوربورکې انقلابونه

یو بیرغ د محمد[ص] به تل رپاند وي
نور د څیلمې[3] دي بادوړي بیرغونه

هم یو رنګ د کلیمانو پوخ تلن دی
رارژیږي نوراومه او پړه رنګونه

سرچینه یې چې شي وچه، ډنډاوې شي
په غورمبا روان اکاو[4] سیندونه

د تاریخ په اوږدې پلنې هدیره کې
بې له شناختې[5] دي پراته ډېر اولسونه

---

۱- مفکوره = نظریه- فلسفه، ۲- څواک = زور- قدرت،
۳- د څیلمې = بتول- سراسر، ۴- اکاو = بردم- ډک،
۵- شناختې = خازې

د هغو قامونو بڼه[1] د بدلې شي
چې لیندۍ یې د ځلمو شهوتي پرکې شي
چې یې کډې مفکورې اوچتې نه وي
د هغو د خپلو الکې کوزې جنګوې شي
راسمني د مشرانو چې یې نه وي
بې درنې ګړې پلرینې یې سنبې سنبې[2] شي
لا شه تورې بنیادم تشې کاتې شي
چې په برخې یې ژوندې عقیدې شي
د شادو غوندې پیښې کړي د قامونو
چې یې جس د نوښتون بسمې شي
چې په چم دی له خاورینې دېوې ګرځه
له دېوې نه عقوبت بلې دېوې شي

کېچ شوملې[3] سره بیل بیل کړي
زمانه د شروند شار بیل کړي
د مېږو لاره یوه وي
چې څه کاندي هغه تل کړي

---

۱- بڼه = رنګ، ۲- سنبې سنبې = ریښې ریښې، ۳- شوملې = تروې- شلومبې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې په لار د شهزاده[1] شي
هغه دوه ژبې ساتل کړي

په فرعون کاندي نسکوره
چې دستور د کلیم خپل کړي

دره یونیم په نیزه وړي
که آسونه دېر تېخل کړي

د ښې ورځې په تکل کښې
خلق توري هم کالل کړي

د کالا کوترو ته کوره
چې په نمر پسې غپل کړي

د باتورانو نوغې[2] دې خور کړ
درته دې پاتې تش پیخالونه

دلبه[3] مرداره څنډوې لاس کښې
تش تپوسان پرې کوي سود[4] ونه

د چټو ښکاري دوګزې نه کړي
هوښیاري ګرځي نیسي با زونه

---

۱- شهزاد د = ...کیاولی دکتاب نوم ، ۲- نوغې = اصل - نوغې خوروله - بېخ وړکول ، ۳- دلبه = غوښنه - طمع ، ٤- سود = مینه

چې پرې اړي وي د باتورانو
نه ښکاري هغه د ننګ نښترونه
له خدای اګاه شول او نه له ځانه
طالبان وايي کوم کتابونه؟
غرابين زنګ شه، او توري پټې
پاتې مُلا دی، يا يې بانګونه

○

وګړي ګوره په غوړو وېړو
نمرې له يوبل را شوکول کړي
کارونه واړه د لاس سبري دي
څوک شي سکونډلی او څوک سکونډل کړي
دشته منانو د ښکان راپنده دي
دښمنانو ونډې ويشل کړي
يو پنجور هم خپل نوغی نه خوري
آدم لګيا دی آدم خوړل کړي
څوک په خمڅو[1] پسې رانده شول
څوک په اوبزمکو[2] کې شونډو[3] وهل کړي

---

۱ـ خمڅې = د نرو جوارو دوډۍ ـ خوار خواره، ۲ـ اوبزمک = غوره زېړه خوراکه ـ شاهي خواره، ۳ـ شونډو وهل = لکه غاروي چې په ګياه کې تشه خوله ووهي، ولې خوري يې نه.

د قبر ځای د لوڼکر نښته

ځمکه وال ځمکې راانغاړل کړي

دوړه تو غوښو د دوزې خېژي
خالق آخر به منځ ته کېدل کړي

○

د ځمکې مخ چې په بلهوا رې

دا انقلاب دی، هم دا پکار دی

چې سپوراوړلی سره یو سیال کړي

هغه رښتینې کاروان سالار دی

وارته دې ځرله زړغی زړغی کړي

نن را اوچت شه هم نن دې وار دی

مېړه دعقل، غوښې د ښکار خوري

دعقله پلې پخپله ښکار دی

هر سړی ځانته ترخره توېږي

یو څو ماړه دی، نور ولس خوار دی

کلیمه وايي په شرنګ يې نه دي

یو سراو بل سر عالم بې لار دی

دننه په تن کې زړې زرغونه کا

بهر بیاګوره څه رنګ بهار دی

(c) ketabton.com: The Digital Library

ژوندانه کله بېلتون کله ګډون دی

کله مل شه د ټولنې کله بېل

که دې زور د زمانې بدلولو نه وي

د دوران کوڅرې خوره او شه بدل

درناوي او سپکاوي په جسوار دی

ستا په لاس ده که کښې اوسې که نسل

نشه توره ګوري لار د ګټې نه ده

توریالیه! چې څوک نه شولي حق مسل

ساد، هغه چې په خولو یې د تندي خوري

تیار خوړي د همه ولسیا غل

دیګرنکو ګوګل پاک وي تل له ویرې

د رغلان او دورنګان وي په زلزل

ته ویله وي چې کوچې ماهیوان بارګېږي

اوس وهې به یې د ایلبند شمال او ربل

حقتولنې څنې پرته هر نظام کې

بنیادم له خپله ځایه راغورځېږي

د ککوړي د سرې ټوکرې د پاره

آدم زوي بل آدم وته ټيټيږي

پوښتنه من دی چې ټولنه کې ټولواکۍ دی

نيستمنان خو په چغ شوي تل اوسېږي

د ناچارو کته باندې کښوي باندې

د چارمنو کښوي به بې کتي پخېږي

د بې وسو د خولو په تړمو څاڅکو

د وسدارو ماڼۍ رنګ، خمې ډکېږي

د رنګوي چې په موړۍ[1] يا په دوتروي

لونګو به په کنجکه خود ارزېږي

بې اسرې آسمان ته غړندې غړندې اړي

په ظالم چې به لا کله نسکورېږي

په زوخړه به يې غورونه شي ټول ويلي

په لړمون د ځمکې داسې اوږخېږي



بې ټولنې ژوندون څه دی؟ شنه يسرلي دی

بې ټولنې بنيادم څه دی؟ نه شي دی

ټولنيزه ژوند سمسور د سرې جس کـا

د ټولنې مـدعـا وراړه سـړې دی

---

۱- موړې = پانګه،

په تولنه ریزکی لوی قهرمان شي

بې تولنې قهرمان هم لیشتکی دی

چې تولنه دې آدام په کلیمه وي

هله وایه چې خپلواک د آدم زی دی.

د تولنې سره مل، دځان ښارن شه

چې ستا «زه یم» د ښوندون ځانګړی شی دی

چې تولنه یې باره(۱) دارتیا(۲) ناخلي

هر بنجه خپل چاروکی هندوکی دی

کلیمه وارې نړۍ یوه کورمه کړي

د یوې کورمې خوتل یوانغری دی

○

دازغوله ویخه سترګې را توکیږي

د پسرلو لاره دغنو په چا په وي

د نمرود د خرخشو به ځویږي

سرې لنبې د خلیلانو خوراکه وي

سامري د زرونو بت غلونه را نیسي

د مزنو پیت پرک هم په تیچه وي

شرق ناتاریې د وختونو نیمه خوا کړي

انقلاب چې یې په نیمه کلیمه وي

۱- باره = پیښتی، ۲- ارتیا = ضرورت- نیکرتیا- کرمه.

ارکجه چې نظامونه د نړۍ دي

ولسونه خو په خوږ یې ارکجه وي

○

د شنډې تخم کرونکي عقوبت وي برخه شنډه

خیږ یې څه کړي چې نه مومي شوګ یې وېړی له درست ونډه

○

چې د عمال او ښوندانه د واړه برکات شي

سړلوبي به دې هله په ولسات شي

چې نیستي د نیمنانو نه غوښتېږي

او ردې پورې په داسې خیر خیرات شي

ولسونه په مېړونو ښوندي اوسي

چې مېړونه په نیش لګي، خود میرات شي

شریعت چې په اندول[1] د خپل وخت نه وي

عقیدې واړه ذکنې لات منات شي

د ښوندون پانې په خپلې سکې[2] کېږي

هغه ورک دی، چې پیرې یې په میرات[3] شي

چې یې منده نه له دین نه له سادینه

د ښوندون خواږه په داسې ولس قسات شي

---

۱- اندول = توله، ۲- سکه = سرمایه - راس المال، ۳- میرات = Grace - لږه وربخښنه.

د هغې او بنې ملامـا ته عقوبت شي
چې يې بار له خپله توانه ځنې زيات شي

○

هر غورځنګ[1] ته دورنګان ورښوځي
ځان دي پوهه په دې تکې هرسالار کړي
تا بيا کړانه د بهر د غليم نه ده
کور غلي په اتبار اتبارګونه ار کړي
د دورنګو[2] وي نظر په خپلو ګټـو
کله غاړه کې تسپې کله زنار کړي
چې د ننګ خبره راشي کور غاري شي
تش ميدان کې به د دوز وتود بازار کړي
تا ته لاپې دياري وهي سوګند خوري
شا په شا دې له دښمن سره روزګار کړي
دوه مخيزه شروند په نه شروندون ليکه[3] دى
يو مخيزه شاه ځلمي يو مخيز کار کړي

---

۱- غورځنګ = تحريک - خوځند

۲- دورنګ = دوپرګ - دوه ژبي - منافق

۳- ليکه = حساب

ھم خپل جسد دې سړی توب خاورې ایرې کړي
د دورنګ عمر په ځان باندې ستم دی

ښسبتن تول د قدر ور دي پیدا کړي
یوسړی د بل سړي نه په څه کم دی

تړ پیسمار[1] د فرعونانو دود دستور وي
که ولس یې تل زغمي، نو ولس ګرم دی

ستور تلیز و ته چې لاس شي رسولی
ولې سود یې په کلونو د شرشم دی

با توران چې د کونترو ځای له را شي
ای ویړلو! نړ هرو چاودی د غه غم دی

دې تولنو او دودونو لیشتکی کړ
کمنی لوی له کائناته بنیادم دی
په لویدیځ کې لړ له عقله ریاني ده
په ختیځ کې د هر لوري نه تورتم دی

نمر پیتار[2] چې د فرعون وي نړ امن نه دي
نړ امن هغه، چې فرعون یې ورکول کړي

---

۱- تړ پیسمار: وهل تړل، ۲- نمر پیتار: د بل د و دي ته ناست .

چې بې جسه وي جابروته تېتېږي
چې جسمنه وي جابر رابغول کړي

چې د بل په سترګو وينې ټول ړانده دي
روغ هغه چې يې پخپله څېرول کړي

نه سړي شو چې سړي يې خدايان کړل
چې سړي وي نو بتان نسکورول کړي

چې بلزونه کړي تنتړي، بازوان نه دی
بازوان هغه چې تنتړي بازول کړي

ننګيالي دښوند نيمګړي هم پوره کړي
او ولس په خدائي رنګ کې رنګول کړي

په ذروکې يې چې ستوري زرغون نکړل
هغې خوشې لوړ په لوړه تېرول کړي

ډېکې ډېکې جولې خلق ځي له درمن
برکت دې شه ننګياله په رشې

ښاپېرک په تورو ښخو سر ښاسي
سور پيا شه ختيځ رانولي پلوشې

د بازونو باتورانو پدې قات کې
ټپوسانو ځنې غوره دی باشې

د دروغو، د ناحقو منزل لنډ دی

ترڅو پښې راټينګوي به يې مشمشي[1]

لا ليدلي يې بو روسترکي کليم نه دی

څکه کړې فرعونان لا په نشي

دحق د وګه له خپل ځای رټولي نشي

دباطل دا شدتونه خرخشي[2]

اروپيچ چې له نقشې دکائنات وي

په بل مخ شوی د نړۍ هغه نقشي

○

چې د نمر سترګه وبريښي

غرونه واوري کاندی ويلي

حق بربال پرون هم نن دی

که يې نښتنه ځوک په سيلي[3]

داوبو دمخ کيل نه دی

کليمه د کاڼي کيلي[4]

د نبستر دسيالی نه شوي

که په خنز شوي ډيري ډيلي[5]

---

۱- مشمشه = پروپاګنده، ډنډوره. ۲- خرخشي = جنګونه، ۳- سيلي = ملاتړ
٤- کيلي = کرښې، ٥- ډيله = يو وا ښنه.

بدخوګ بد ونه نه وايي

خلق شوي داسي ايلي

چي رنځور باوړي[1] وکړي

پوچي شي د دارو هيلي

له پولاد اصيلي زيږي

خري نه زيږي اصيلي

چي نښتر له برمه درومي

نه تيټنګيږي په يونيلي

لکه کس کړي په ځان غاړي

هسي قام په ځان ځاني[2] کړي

د هرچا تبر له تن دی

خپلي سپيني خپله پري کړي

هرڅوک قبر ځان له کني

هرڅوک خپلي جنازي کړي

غليان له کوره زيږي

پلمه بازخه له پلمي کړي

هرڅوک ځان ته تبي[3] سري کړي

بيا يي ځان باندي سري کړي

---

۱- باويړي = ډناروغي بيا تاندېدل، ۲- کاني = شندي - غاړي، ۳- تبي = د کښتي تبخي

خپل عمل بری ښښن دی
خپل عمل په غاړه پړي کړي
څښتن ظلم تېری نه کړي
هر څوک خپله ډیوې مړې کړي
د فرعون د کور له درنده (۱)
کلیان جګې نېزې کړي

په مسور(۲) و باتور نه رنګوي نوکې
د تنره و تو دې وینې یې مسوروي
د ننګیال کړلي خېژي، سمسورېږي
مېږې واړه اوسپنځري که سوسر(۳) وي
د دوران تا بیا د هغه چا دوس ده
په غښتنو ښوندون چې یې نظروي
د تاریخ تول نرزوري پرکونه سني
چې مدام د ننګیالو موټی لښکر وي
منکران به څو د حق د لارې تښتي
د هر یو لار به آخر پېدې خیبر وي

---

۱- درنده = غولی- جَوَس.

۲- مسور = دغوکونو رنګ - نیل پالش، ۳- سرسر = دوکیاکبدونکی اور.

○

علیمه لوی چیناګر دی        تل ترتله په غـو ږ ځنګ
سوسر ونه پرې اسپرلین دي        سیمه سیمه پرې ګلرنګ

◯

دکشر مشرفرق خوخود وی
ځښتن لومړی دی او پسې ته یې
د یونه کچ یې په نورو بـــــره
هغه قچیره، ځواکمن مبره یې
چې دی خویونه د هغه خپل کــړل
هله په ولې یې، هله به شته یې
څکه دې غوره پخپل سرا خـــلي
د هغه مټ یې، د هغه کړه یې
د هغه مل یې، په زړه م بسـیل یې
له سین زرغونه بربوکینی نه یې
په سپکو کانو چې ځان دې تولې
دا له خپل ځایه لا اخـبر نه یې

---

۱ـ غوره ـ تورتهمت ( ... فلم تقتلوهم ولکن الله قتلهم ... )

پهٔ درست عمر کې بوړنه[1] دی نه ده کړې
دادی بازدی وهنده او دا میشکاری بې
یو قدم له خپله ځایه مخکې نه شوې
د کانې غوځکې بې ټول عمر په لاری بې
نه دی برید، نه دې ولجه، نه دی مبنودځه
هسې لوټ[2] یې او ډحمکې په مخ باری بې
څه که ځان په سرو مهرانو باندې نیسې
په نظر د صرافانو کټ بنګاری بې
حج، موځونه، تلاوت کړې روژې نیسې
ولې او س هم ز ناری بې، بُت ګزاری بې
لږه پښنه و نیسه فکر له ځان و کړه
چې دا ولې له همه قامونو خواری بې
چې همدغه مذهبونه دې امساوي
لکه ړوند له کړنګونو به غوزاری بې

دغلیانو په مسودونه
چې زنارونه و، هغه تسپې دي

۱- بوړنه = لومړی شکارګول، ۲- لوټ = بې هډو کو ځانده.

کتاب کښلی، باطله کړی
دکتاب مینځ نن هغه کیسی دي
انځور هم هغه خدا ئی انځور دی
ولی پرې شوې پوچ کښیدې دي
چې خلیلانو راړنګ کړې وې
دامتیانو هغه کعبې دي
داچې یې نور د کلیمو خپړي
چې ویخ یې کوږې یې کلیمې دي
دمذهب شروتې لیندې په لاس دي
ځکه یې ویشتې تل مونډې دي
چې حق ننګي وه ځلمي وغشي
چې یې ننګي شوه ځلمي ډرمې دي

دباتورو دورترل ده بر
لړزه ناسته یې په ځاله
دشړوند برد(1) کې، راځي پتي(2)
دنصیب لیک ته اتاله
چې نیستي په هستي مار(3) یا
څه به خلاص شي له زواله

۱- برد = سیالی، ۲- پتي = وروستی، ۳- مارل = حساب ول.

چې يې ګډه کلیمه ده

ولې نه دي ټول را بتــاله؟

بازداري دي خپله ستاېي

په دېوال له تش پېخــاله!!

په نږي باران پسخه شي

اوم غرڼ لوښی ګلاله!

د بل ګټې ته په طمع!

هيڅوک نه ګټي يې تاله

خواږه بر سېره کا، تراخه به ورک شي

چاپېر ټولنه که هر څو ترخه ده

تیرې به وي تر هغې څلې څلې

چې دې ډېوټ باندې ډېوه څومره ده

حجره، جمات کې يې رېښتيا وويل

له یو مغیز نه ولسیا خپه ده

د رابیا کې بورجل ته ځان رسوه

که لار د سر وغنو چا په چاپه ده

د صبا لاره څوک ډب کولی نه شي

ممه دا وخت تکه توره شپه ده

په سپوږمۍ کوز شه مېړني وويل
دا د بې ننګۍ لارې لومړی کړپه ده

ښه عمل «زه يم» ښرغون کړي
بد عمل د «زه يم» ښرنګ شي

چې په «زه يم» شهسري[1] شي
دوه جهانه يې قلنګ شي

شي تالا تر غه په «زه يم»
چې دوه مخي شي دورنګ شي

بيا د «زه يم» ژوندانه دی
چې کالبوت د خاورو رنګ شي

چې ښمسور يې «زه يم» نه کړ
د وجود سره چنګ ونګ شي

مرګ يې هيڅ کولی نه شي
چې د خدای په رنګ کې رنګ شي

په خپل «زه يم» باندې ننګ دی
په ښښتن که د چا ننګ شي

---

(۱) شهسري = سترسري - لوی سړی.

کښېنده پرې ستا عمل دی
که دې "زړه یم" سرانځور دی
شو سړ هسکه دلې هورې
چې په "زړه یم" کې سمسور دی
چې ځوانکه[1] یې شي تورکې
تش لمنی، هم مختور دی
ای د ښېټې غم خوړکو!
ښېټه هم، خوشروند څه نوردی
دې آدم، آدم په زړه یم
بې له زړه یم د آخور دی
چې د تش نس او د نوس شي
سړې ذات پورې پېغور دی

د مېړونو تېرو تورو چوړنګ یو رل
د اَتي په امبالې چې غوړمبېدل
د هغو ښاړو بڼه الوزي
سړ چپه چې جوړه باز نه نیغېدل

---

۱- ځوانکه ـ د زړې یا تخم هغه شوني تیا چې زرغونه ترې کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د هغو په طبیلو خوړونه غښتي
چې له حق ځني ناحق ته اوړیدل

چې خوړلي سوګندونه یې د وفا وو
دار یې یښې په اوږو وګرځیدل

د ړندو کلي کې کراني خر میړي وي
او لالونه په سوپیاکو خرڅیدل

د کلیم په برخه دا رنګې مړژواک وو
چې له واکه یې واکې ته پسخیدل

د میړونو پولادي متې سنګر وي
تور بریښونه یې شملې د قام د سروي

په پوهونو د جمات خوبونه نه کړي
یرغلونه د باطل چې یې په سر وي

د میړونو نغري ګوندري شریک وي
شیخ ملي دوتر یې واړه یو دوتر وي

مخور د ړماني هغه تومن دی
چې پرانستي یې په درستي نړۍ وروي

د ړزم چینه به یې هم چرې تاند نه کړي
چې پخپله روستي ځبلي د نښتر وي

په نېزو کې يې د وړانګو ستوري ولاړ شي
ننګيالي د نمر خاته ختلي نمـر وي

که د ينګان لري هر څو ستړې وزرې
لويې ماري د باتورو په څيګر وي

چې کاسير وي په پوهنې کې بربنډ وي
حيا خپله حياناکو له څـــادر وي

پردې بد شي د کتهوي خپلې نګـولې (۱)
بدې کړوني خپلو بدو له اشــر وي

د ميړونو د څنګوټ هم دغه دود دی
يا د هيڅ ټول ماړه يا ټول نهـر وي

○

چې يو يې مفـکوره وي
او له دې نه په ادب وي
په سره کې کُنجي (۲) لاس وي
په توده کې يک (۳) جلب وي

○

نه توره د کائنات ده    نه د ژوند دستور او لاره
چې يو څو دې په (۴) ولـه وي    او د نورو برخه خـــواره

---

۱- نګولې = پخکرې - لمده بل، ۲- کنجي لاس = خپلو کې کلک لاسونه ورکړې.
۳- يک جلب = چې آسونه يې څنګ تر څنګ روان وي، ٤- په وله = ماړه - هوسا.

د میړونو لار(۱) لومړی توری وهل دي
چې نړۍ په ولکه واخلي نو ویش کړ شي
د میړه نیکه دوتر چې شته کول غواړي
هغې مټې بهې راکاږي او نر شي
د قام مشر هم د قام په جامه بویه(۲)
چې ولس یې د شړه وي، شړیور شي
زمانه که ببر شوی اباسین شي
شاه ځلمي ورته پښې بنجخي کړي تورغر شي
چې په ننګ د لا اله وي غزا هغه
نور خو هسې خلق خوشې ککړ شي
د سینا په دونهه پنډ تول سربرې
دیوې دونې ترمخه یو تبر شي
برغو(۳) پوک وهه، ډنګ ورکا نغارې له
دا خواره واره بنجخي(٤) که لښکر شي

۱- لار = قانون، ۲- بویه = پکار دی، ۳- برغو = سنکر- تورم،
٤- بنجخي = دړې خپې (په اصل کې دوې بوټی سرغوټه وائی.

په توربرېښ چې په مېدان کې جنګيالي وي

سر څېرې کې يې وتلي ننګيالي وي

په خپل کور کلي کې د ېرخلق نامستو وي

حقملان په ولسات کې نوميالي وي

چې کليم ورته بيرغ د يرغل ور کړي

که په هره غاړه مخ کړي، بريالي وي

کليمه پښتوله، په لاس کې بمبل توره

د ميړونو خو هم دغه دوه کالي وي

که لوی شی دی هغه منه دا بدالي دی

په داځه که د چا توره ابدالي وي

په سومنات د غوابين په خوله بانګ وايي

چې په ختړه کې يې ګډه بلالي وي

بازداري پوري پيغور شولي بازداره

باتورزي دي قوشخانه کې تېپوسان شول

په ټولنه کې رښا پوښتې راڼغله

که وګړي ټول د سيلمې ته حاجيان شول

(c) ketabton.com: The Digital Library

فرعوني او هاماني په زلزل کوره
پدې شخړو کې یو څوک کلیمان شول
چې دیوي یې ستا پلرینې واخستلې
د میږي له ځایه پورته شو آتیان شول
د همت سپاره دي وبوګنیدل هسې
خر سپاره درته له پامه وزبکان شول
زه ریالی له خپلي ماري په شا نه شو
په داغه شي په ډنګ ډنګ که ناکسان شول

ای تورانکی او ردزړه ونوله
ستا یوه کوکه ورکیدلی نه شي
ته ره شلونه دا زغو که وي تل
د ستر کو لاره څوک نیولی نه شي
د کیدرانو په اور روکې چري
د زمري غوړمب خطا کیدلی نه شي
چې شي لاس بري د فطرت په لارو
په هغو چرک را پربوتلی نه شي
د نن په ګټه چې یې سود کړیدی
د صبايي میدان ګټلی نه شي

چې له دې ځمکې پورته شوی نه دی
خبر د بل ښه وي راوړلی نه شي
په شاه میره یې انګازه شوې ده
که یې بنجخی نښن لیدلی نه شي

چې د لیچو نه ور پیدا کړي توره دار شي
چې چنګیز یې وتړي نو هغه لار شي
چې وسلو متو سره کلیمه نه وي
که د غر پښان تومن وي تار پتار شي
له دستور د کائنا ته ښنک وځتي
د کندوانبار شته من قامونه خوار شي
بې وسي په دنیا لویه کوتاهي ده
چې د ښکار کولو نه وي، خپله ښکار شي
آدمزاد لوی په میراني شي کولی
چې د خیټې د غمونو نه وزګار شي
خواري بویه خو په حقې لارې بویه
خړه ګله په خولو وینو چنار شي
ته پخپل بخرکي ولې ناویسا یې
هم بخرکي چې خوندي کړي سور انګار شي

شنه راستي د سروي هيچري خيم نه خوري

که پري تير د خزانونو ترپسمار شي

د باطل د وين تښکي خو کليمه ده

له نيمګړو مفکورو هيڅ نه ويرېږي

د پرقامونه به د ځمکي له مخ ورک وو

خو د ټکه سره تيغ نه وېږي کېږي

زېږړي[1] ټول سمسور په دل ځوخت ترمنځ کړي

تلوار ګړندو! ډيګ پسوار باندې تودېږي

پلويانو د روسوا ولېنن! وا ورک

دا نړۍ ستاسو په وړاندې به نوريږيا

بنسټونه د ړوندون په يوه حال وي

ادا ښي مګر له وخت سره نوريږي

ټول بدلون يا نه بدلون ړوندانه ندی

خوار هغه دی چې يو لور ته ځنګزنيږي

په شونکار دا باسين چې شوی پورته

ولې چپ يې د ماڼکي سندره نه کړه

---

١- زېږړی = نړۍ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



تا ژاکونه د خزان ژړګونه تېر شول
خود سړوي شنه جامه یې زیړه کړه

چې رښتیا ویل د کومو خولو توروه
بر په دار یې له رښتیا و بله نه کړه

راغلل د هر انقلابونه د لې هوري
ولې درسته یو سالار کلیمه نه کړه

مېړني په مېړني پسې لوګي شه
خو باطل سره توده یې سره نه کړه

تېرو تورو، تهمتونو او خوږې هم
هیڅ کچه د رښتیالو عقیده نه کړه

چې د سرو وینو پیاشې پکې ځلېږي
شاه ځلمي هم په هغو لاړو چلېږي

زر سجدې د جماتونو په پوړونو
د مېړه په یوه هڅه نه ارزېږي

ککرې د کلیمانو وي تل هسکې
ښکروري ککرې ورته ټیټېږي

حقملان له زماني وي پېرې مخکې
خلق نور د زماني په دود تېرېږي

کلیمه د کائنات سره جنګیږي

غل د رغل به له جنګ غالي پشا کیږي

نه دې خپله غاړه خلاصه په مړینه کا

دې نه مه ګوره چې کله صبا کیږي

د میړه له مټو پاخه — دنا حق جهان نسکور کا

په چینجنو وستو ګرګو — بو د هیره پورې اور کا

دا خدایان د تینګې نه دي — ولې نه سترګې د بوور[1] کا

د قامونو ونډې ځمکه — د آدم تالیزه کور کا

دا د غوښو تش لوټونه — په ځلقا د جسو نور کا

د ښتن په ګنبد وکي

خپلې چارې دې انځور کا

په تیرو تورو برغند ځي

ننګیالي ځي په خپل منډه ځي

د میړه د خولـــــــــووږم

د سپرلو له ګرده ونده ځي

---

۱. بوور = نهري.

له ښبتنه چې هم غړ وي
هغه کار هم کله شنه ځي؟

هغه ښي پرې کړې بویه
چې د خلقو په مرکه ځي
د تسپو خاوند ته خیر دی
که ځي دارلره، لوته ځي

وسپینیزې خَتې[1] را وړه
د کلپانو آخر کنده ځي
چې په څانګه کې پخه شي
هغه څکې له بې شنه ځي

چې له اوره لاشه مومي
څه بې ویره بیا له اوره
زړې مات وروکي کور کړي
شي همغاړې له شهکوره
په چرسو[2] به تر خو سود کړي
کائنات ځني پلن پسوره
د زړې ځای پکې ورک شي
چې ژوندون کړي جامه نوره

۱ـ خَت = کمیس ـ یمنۍ، ۲ـ چرسو = تنګ ځای

سرېخيره تل پائېزي

خير دي نشته سرېخوره!

دفطرت په هنداره کښې

له ښتنه ځان ته ګوره

چې ځانمن دی هغه کس دی

چې ناځانه دی ناکس دی

په سيلاب غرونه لرېزي

څه ارزښت دلې د خس دی

يو په لس، هم يو په سل دی

پياوړې چې په جس دی

د هوسو دغرالې [1] نه

دزمري ورتېره وس دی

په زرګونو دلو سرد [2] له

يو بڅرې داور بس دی

ګرندوېږي ښيره ګل ګړه

دمېټه ؤ کاروان پس دی

---

۱- غراله = دهوسو سېل

۲- سرد = يووابنه

زرداران خوري مدام غوښې

د خپل قام لکه کرګس

په درست قام يې لګولي

له پېرو راسې کرګس

دوی رښمين له سره واخلي

قام له پاتې شي يکرس

روږي دب کاندي ولس ته

بياکوي مانځه او دس

د بې وس ونډه کوونکو!

وي ترڅو به ستاسو وس

د «لا تترکضوا» وخت لنډ دی

لاکوئ هوا هوس

چې ښتکوړي ظالمان شي

سينه يخه د جهان شي

چې خدايان پرمخې پرېوځي

را اوچت بنياد مان شي

چې ځانګړی دوتن ورک شي

په توبنه لولنګران شي

کلیمه هله په پښو شي

دباطل بوربل چې وران شي

زرداری کې ځاناځان وي

کلیمه کې تول یوځان شي

○

پدې شخړو پرکښو کې

هم هغه ځلمی لغور دی

چې دټول نوغی دخیره

همه چاروکې حقطوردی

○

پوره جسوشه بیاګوره

چې یوتن ښکلبنګر شي

دمیړه له چارو بریښي

په تندی اخستی غر شي

هم دغو برخبنرتیا ده

چې خردګ پاڅي نښترشي

له تني زوخ چې اوچت شي

لکه نمرپری تل سحرشي

چې ژړوندی وي د ښکار ځله
تودې وينې خود شهپر شي
زمرين ګوا ښه شاه ځلمو ته
سلامي سنګر سنګر شي

ځوانان څه کړې دورمې دي
ځکه يې غشي بې پلې دي
چې له بازه چټو ته ناست دي
پيخالونه يې ولجې دي
ولسات لکه تنزري
د ښکاريانو په ښچې دي
د بل مخه يې پتوله مخه
پرکني نه دي ترمې دي
د نمرود وسيلې وايي
له آنرې عقيدې دي
چې نومرې په سرودي
د سرو تشې پيښې دي
د باتور نخښې يې نښته
لاملخې توليې جوښې دي

د یو شرق زغملونه دي
دا پېژي دومره اومې دي
پکې زه یم بوده نه شه
وجود تښې تنستې دي

○

د آدم ځانګړی "زه یم"    لکه حق صمد احد دی
تن زاړه دی ولې "زه یم"    لَمْ یَلِدْ وَلَمْ یُوْلَدْ دی

○

د هر زړي په درون کې    د خپل ستر وجود انځوروي
تېغ، تنه، ځانګې ګلونه یې    هم کامونه په خپل لوروي

○

دیکرنګه برید مېړونه    نیسي نور نور سنګرونه
د فطرت خوا بزه لږ نه دي    که ساړه نه شي متونه
لمن څه چې ځادر خور کا    د سپرلي ډېر دي ګلونه
ته لا میشت په سر پړاوي یې    ژوند دې شخړې پړاوونه
خوني خونې ستور تلیږي    تازه نه کړه یو خونه
که تنها کوته کښېنې    شي کوته به منزلونه
قدم تېز کړه، چې غږېږي    ستوره تلوکې جرسونه
یوه ورځ به درته راشي
ستورګزونه بېلکونه

چې په یو هسته پیوست شي
ذرې غونډې شي تور غر شي

وړانګه ګډه شي په وړانګې
راډېره نوی نمـــر شـــي

چې حجرې غښتلې پاخې
نو د هِګ ځاندرو سحــر شي

ننګ له ننګه چې کوشیر شي
هم لښکر شي، هم سنګر شي

چې سپېڅلې سره صف تړ شي
هـله الله اکبر شـي

هڅې هڅې چې په ګوابښ شي
نو چوغې نوی په ســر شـي

شهسواران چې یک ځلب شي
د بړدونو[1] لـــوی اخــتر شي

تور په تور باندې شي پورې
ســـترګې ســترګې یو نظر شي

لارې لارې هر آسمان شـي
چې همت همت وزر شـــي

---

(۱) بړدونه = ولجې، مال، غنیمت.

د ژوند پېټې شي مخ لسوځې
چې شوګير تېره نشترشي
چې ګټل بخښل توره شي
بيا آدم جنت ته ورشي
چې دعقل سپاره وينښ شي
پوچ خدايان هله ډېر شي

○

د وجود تون زيږون دى　اود «زه يم» نوښتون دى
نوښتون کره دژوند تره　نوښت «زه يم» له پاځون دى

○

يو غورځى دى اباسين دى　غروند غرونه دى يو ږيز دى
يوه هڅه دى سپوږمى ده　يو ږغل دى ستورتلېز دى
له تش شور لاس اوچت شوى　اوس دهرغوره غوريز دى
ستا د توري له تکوره　کائنات ټول سندريز دى
غره راغه دې له همته　ګل لمنى ګل مخيز دى
لا د ژوند غرمه ده لرې
د اخو اوس لا سوړکهيز دى

که د ښروند نقشونه د پردي
ته د واړه ښروندانځوري

نور ښروندون دي همه پلی
همه یو ته يې چې شهسوري

واړه ستوکي یو یو رنګ دي
ته له رنګه سپرلي طوري

د هوسی په سترګه د ننه
هم باتور کسی د بوري

د ذري په ځاندره نمري
په قطره سمندر سپوري

ته په ځمکه کې آسمان يې
په سرو اوبو کې اوري

د لښي سره پیا[١]څه يې
لا شه توره، هم تکوري

چې راغونده شي موټي خاوري
کائنات شي چې ورخوري

د مجرو په ارونکه کې
له ظاهر لیده څه نوري

---

١- پیاڅه = د ښاتو ډک ګبين

نور کورونه په تا تنګ دي
نه هم سیال د خدای د کور يې

مفکوري به دوېرې پوچ شي
د دې یو کلیمې وړاندې

چې يې ښن سندرې وايي
په صبا يې وايي ساندې

په تولنو کې زرغونه — دا د نوي او هشالونه
د سر هنګو شاه ځلمو دي — د خولو وینو رنګونه
د شاه متو الامې يې — اسمانکه سنګرونه
کښنېدي يې د کراو دي — وير سپرلي شالېزارونه
د ناغوسترکو شوګیر يې — شه علمونه، حکمتونه
په نهره د جنګر بزيې — خورې ورکړې شو لانونه
د عقلي هسنود رشه يې — هڅوبونه، تهذیبونه

د ځلې د نرګس غبن دي — پسرلي يې تا نګه راتلی شي
په ارکه چاپیر پیال هم — انقلاب زرغونیدی شي
عکسمته پرګنو نه — ملت د لارې تولیدی شي

میړه مل که د ښمنتن دی — له ښمنتن مخکې کېدی شي
د تیرو ازغو له تخرګه — نوی ګلزار وتدراستر کېدی شی
دفرعون له خپله درنده
کلیمان راپاڅېدی شي

آدمزاد لا لیشتینګ دی — لا ډېر لرې له خپل ډګ دی
که په تومنه باتوران دي — لا په چاروکې لولک دي
فلسفیان یې هلک فکره — لا، له زړه یې بې درک دي
په دې ویرلوی کائنات کې — په یو ځمکه، نمر تاوک دي
که خپلوا که ډېر ځان بولي — چې یې ګوری لا بل وک دي
د شپانه څارېږي لا نه زړه — شرمخان د خپل کنډک دي
لا یې عقل ډېر کچه دی — لا په ډېر جهلونو کلک دي
د سرښوره نغوتکو — په لاسونو کې لینزک دي
زبینا کیان یې په جوش کې
هغه شان په امبولک دي

لا په سر یې فرعونان شته — لا قارون شته، لا هامان شته
آدمزاد چې ریزکی دي — لا دو چې ډېر خدایان شته
د ولاړې ځکه نه شول — چې پرې پټ شلمان شلمان شته

لا په دار مسیحیا خپري لا لندې پاري مذهبیان شته
خلیلان شړوني کشري د آذر لا لښکریان شته
هر نوښت ته کفر وایي لا مخ ختمي زناریان شته
قلمونه په اور سوځي لا د علم غلیمان شته
آدمتیاله لا یو خوب دی لا د قام، خاورې بتان شته

سړیتوب ته لوی منزل دی
لا د دوو پښو حیوان شته

وخت به اخلي، ادمزی چې
له خپل ځانه آشنا کیږي
د ښتن او د خپل زړه یم
په ارې کوچې رسیږي
وخت به اخلي داحیوان چې
د سري په پښو پاڅیږي
وخت به اخلي پوچ خدایان چې
د بریږي، نسکوریږي
او د جهل کتابونه
د خندا توکي جوړیږي
وخت به اخلي کائنات چې
ستر آدم ته بیا تیتیږي

د آدم په پاڅېدو کې
لا د نړۍ و پېړو ځند دی
د دې دوو پښو ښاروی ته
لا په ځپ کې لوی کولند دی

ته په ټول کائنات بری
خوله ځانه بې خبری
ملغلره یې په زړه یم
که سیپۍ په تن بهری
په یو ښاخکي کې توپان یې
په ذرې د ننه غری
بر سېرېنه که لاک بنکاري
چې په جس شي نو سره زری
ستا تو بری توره دې "زړه یم"
هم په "زړه یم" ولجه کری
که ورستی راغلی کاروان کې
خود واره کاروان سری
مینځ هستۍ ته دې پام نه دی
د بهر هستۍ په چری
لا نیمچه آدم یې ځکه
لا د نیم ځان روزنګری
انځاره کې حق ته تلیه!
د نا حقو انځور ګری

مفکورو پوچو او خوشو
کو چنی کړی آدم زړی دي
که یې ستر کتاب په لاس شي
د ښمنتن د برش سری دی

الکتاب په ادم زړونـــې
لا ږېښودن آخرنی دی
که هر څوم ره لږغوني دی
خو هر ننګي صباني دی

حق لا اوس هـم ناویلی
که ویلی دنـدلی دی
فرعوني دی په خمار کې
نازیږیږي کلیمي دی
چرګ پرېوتی سیلاب زوړځي
نوح پلوی بې بېړۍ دی
دکعبې سپایان جوت نه دی
آتیوان بیا په غدی دی
یو مذهب دکمتي نه دی
دالیندی واره بې ژۍ دی
خلق خبنتي د بتکور دی
حُکه ښځې آذری دی
ناپوهي د هر وګړي
په وګړي په غدی دی

مفکوري پوچې نيمګړې
بشپړکولو ته تيږنده دی

چې خوندي دې کړه رو ره شه
چې دې و باره خوندي شه
لاس په ظلم پورته شوی
بېرته شرق په خپل تندي شه
دباتورو جسد يې بايلل
چې دچتو وهندي شه
پولې پاڅي آدم وخوري
چې دپولو ځای بندي شه
دخليج ښرې ته وګتي
دبتانو وهندي شه
چاتونګ د اسمان وخور
ځوک ځنلا په ګرېندي شه

شروندانه تول يوځانيز دی
که هرڅو مره ګڼ رنګين دی

PROPERTY OF ACKU 7550

مخ د ښکلو په سپو مخه
که هر ټوکی بل مخیز دی

په يو بم په زير جار وځي
دا رباب که زرتاریز دی

لاړي لاړي يو شهلاره
ټـــل ټلی یو ښه ټلیز دی

ستور ټليز ستور ټلين كوركور
كائنات يو ښه كوريز دى

پدې دومره هک ځاندره کې
ځمکه ناشې غوندې څيز دی

خو ځمکه زي په شوني ټياو
د همه شروند د ټوزیز دی

په تنزومټ کېراو کړه
شيش بيا واخله ويږ جهان ته

چې ذره په ولکه واخلي
متی راښکه بیا شلمان ته

ستا تقدیر څه ځمکه نه ده
لاړې ورباسه آسمان ته

له بېلي درياب ته واوړه

لـه تنګي نه پلن دامـــان ته

غوږ کښېږده په لینده کــږه

بيا ورکښېوزه شنـخ کمان ته

له سپېرغوښې ډېرهٔ وند وکـړ

لاس کړه اوږد نمـــرو بنــان ته

پوهه بوځه خـپر کتیا له

خپرکي راښکه ايمـــان ته

په نرۍ ورخوږ يـدو کې

ګرځيدلی اوسه ځــان ته

PROPERTY OF
ARIC
Established
1989

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**